# سکون

شاعر

## بختیار ساحل

www.samsoor.com

د کتاب نوم: سکون
شاعر: احمد بختیار ساحل
د چاپ کال: ۱۳۸۹_۲۰۱۱
د چاپ زیار: واحدالله مزل او میرویس رحماني
د چاپ وار: لومړی
کمپوز: پخپله شاعر
ډیزاین: نصرت الله الهام
له شاعر سره اړیکې:
۰۷۰۰۲۵۳۷۹۲
Sahel_cheena@yahoo.com
د چاپ چارې:
د چاپ شمیر:
د خپرندویې ټولنې لړ:

# ډالۍ

زما ښوونکو مور او پلار ، استاد حبیب الله زړه سواند ، استا احسان الله توفانزي او استا مولانا ملوک زاده ته !
زما خواخوږو ملګرو هغه چا ته چې زه یې هېڅکله هم د شعر له ډګره بهر وتو ته نه یم پرې ایښی ، استا شېرحسن کمالزي ، بریالي ویاړ ، عبدالله سهار ، اکرام الله اکرام او فریدون خوځون ته !
زما هغه ملګرو ته چې په ما یې لیکنه ولوسته او پوهنتون ته یې راوستم ډاکټر حبیب الله حکمت او انجینر سمیع الله مفتون ته !

بختیار ساحل

# ساحل به تل په سپېرېز حالت کې و ...

ځوان او خوږژبی ویاند ، شاعر ، ژورنالیست او لیکوال زماد ډېرو مودو یار انجینر احمد بختیار ( ساحل ) د ښاغي محمد حکیم زوی چې پر ۱۳۶۵ لمریز کال د کرېږي ولسوالۍ د بربیار کلي په یوې دینداري او درنې پښتنې کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي.

له لومړي ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې زدکړې یې د میاعمر په عالي لیسه کې سرته رسولي او په ۱۳۸۵ کال ترې بریالی راوتی د همدې کال د کانکور دازموینې له لارې د ننګرهار پوهنتون د کرنې پوهنځي ته بریالی شو ، چې اوس مهال د همدې پوهنځي د وروستي کال محصل دی.

بختیار ساحل زما ډېر پخوانی ملګری او په لیسه کې مې ټولګیوال هم و ، څرنګه چې ننګرهار ښکلی او شاعرانه ځای دی ، د شاعرانو او هنرپالو خلکو کور او د ادب زانګو ده ، نو ساحل هم د همدې ځمکې هستوګن دی او په دې هنري ټالونو کې له پیله زنګل زده ول.

ده له کوچينوالي له شعر او شاعرانو سره مينه درلوده ، په مجلو اخبارونو کې به يې د شاعرانو شعرونه لوستل کله کله به يې همدا شعرونو په لېسه کې په اونيزو فرهنګي غونډو او مشاعرو کې ويل.
هماغه شوق او علاقه وه چې کله دی د لسم ټولګي زده کوونکی و د شعرو او ادب بهر ته يې ودانګل او شعر ليکل يې پيل کړل چې په دې برخه کې بايد د تکړه شاعر استا احسان لله توفانزي ، حبيب الله زړه سواند او استاد محمد غني فاروقي هڅې او لورييني هېرې نه شي.
مونږ به چې کله کوم شعر وليکه نو بيا به مو توفانزي صيب ته وښود هغه به په اخبارونو کې راته چاپاوه او مونږ به يې نور هم ډاډه کولو او وروسته يې بيا راته زړه سواند صيب په ګوته کړ چې هڅو يې ساحل دې ځای ته را ورساوه.
يو مهال داسې راغی چې په لېسه کې به غونډې جوړېدې او خلکو به په کې شعرونه ويل چې يوه ورځ ساحل هم په کې خپل نوم ورکړی و په همغه ورځ يې چې شعر وواېه نو بيا به هره ورځ خلکو له دغه څخه غوښتنه کوله ترڅو په دريځ شعرو وايه په لېسه کې يې شهرت او عزت ورځ تر بلې ډېرېده چې بلاخره ساحل يوائې د ليسې شاعر پاتې نه شو

او په ننګرهار او سیمه کې هم خلکو وپېژاند چې بیا یې سر ان تر لریو لریو ځایونو ورسېد .
د ساحل یوه خاصه ځانګړنه دا وه چې که په لېسه کې به ازموینه هم وه خو چې چېرته به مشاعره وه نو ساحل به بیا د ټینګې نه و ما ورته ویل چې هلکه د لېسې په دوره کې لږ پام کوه خو ده به ویل چې زه ډېر پام کوم خو زړه مې تخنیږي او که دې مشاعرې ته لاړ نه شم نو په زړه به مې ارمان پاتې شي.
ساحل هر ډول شعر لیکلی شي خو غزل یې ډېر خوښ دی چې ښه وړاندې هم په کې تللی دی باید یوه یادونه وکړم چې که ټېپیزې وړاندې هر چا لیکلې وي خو په ننګرهار کې یو ائینی سړی ساحل و چې د نارنج ګل په کلنۍ مشاعره کې یې وویلې او تر ننه خلکو دغه فورم ډېر خوښ کړی او په کې منډې وهي.
کله نا کله ژباړې هم کوي چې ښه بېلګه یې د پرویز قاضي سعید ( سبا به بیا غېږې له درشم ) د ناول پښتو ژباړه ده چې چاپ شوې هم ده.

د ساحل د شعر یوه بله ځانګړنه دا وه چې سادګي یې ډېره لرله او د هرچا په زړه به ډېر ژر کېناست او په همدې خاطر به یې یو شعر په څو مجلو کې چاپېده.
د شعر مطالعه به یې چې کوله د اروانباد صاحب شاه صابر کتاب په لاس کې ، د شاه سعود کتاب په جب کې او د اجمل اند کتاب به یې په څنګ کې نیولی و او په لاره به یې اکثره د دې درې شاعران شعرونه ویل مونږ ته به ډېر عجیب ښکارېده.
یوه بله خاطره به یې هم ووایم چې په پیل کې یې له ښوونځي سره ډېره ډډه نه لګېده خو چې کله یې د خیاطۍ کسب هم زده کړ نو په کار کولو کې پرې لږې سختۍ راغلې نو په همدې خاطر یې بېرته د ښوونځي سره مینه ډېره شوه او بیا تر پایه یې ښوونځي په مینه ولوست.
د ساحل ډېر زیات عادتونه دي یو عادت یې دا هم دی چې یو خو څوک پرې نه پوهیږي چې دی غوصه وي خپه وي او که عادي خو چې ور ګورې دا دربواړه حالتونه په کې ښکاري سړی به ورته حیران شي ، په ملګرتیا کې تکړه دی د نیمې خولې سړی دی چې غږ پرې وکړې نه یې په خوله کې نه وي له ملګري سر ځاروي خو له هغه ملګري چې دده

ورسره لګي ، په انسان پېژندنه کې هم خورا تکړه دی زه به چې کله هم له کوم نوي ملګري سره دده ترڅنګ ورغلم ویل به یې چې دا سړی یا ملګرتیا کولای شي او یا یې هم نه شي کولای.
دی یو مهال د ځولۍ مجلې مسول مدیر و چې وروسته یې دغې مجلې ته د چینې نوم ورکړ او تر اوسه پورې خپرېږي همدارنګه اوس مهال په کلید راډیو کې هم دنده لري چې یو شمېر خپرونې پرمخ بیا یي.
سکون د ساحل لومړنۍ شعري ټولګه ده چې چاپېږي زه ورته ددې ټولګې د چاپېدا له امله د زړه له تله مبارکي وایم او په دې هیله یم چې یو مهال یې دېوان په لاس کې ولرم. زه خپلې خبرې په خپل یو شعر پای ته رسوم چې:

په مینه
ډاکټر حبیب الله (( حکمت ))
د ننګرهار طب پوهنځی مرکزي لیلیه
د شپې ۹ بجې
۱۴_۸_۱۳۸۹

# ساحل، د غزل یو بل شاعر

پښتنو زلمیو کې د غزل شاعران شکر نن سبا ډېر دي. څه موده مخکې مې د جلال امرخېل شعري ټولګه باندې څو کرښې وکاږلې. سمې به وې او که کږې، خو هغه مې د غزل شاعر بللی وو. خوشال یم چې دا ځل د غزل د یوه بل شاعر ښاغلي بختیار ساحل باره کې خبرې کوم.

د ساحل شاعري نازکه او نازولې ده. نازکه او نازولې ځکه ده چې زیاتره د غزل په قالب کې ده او د محتوا له پلوه د ښه غزل واړه لوازم لري؛ مثلا: د حسن او عشق تذکره او تجربه، شرنګولي آهنګونه، چست او چټک وزنونه، نوي خیالونه او انځورونه، تازه مضمونونه کوم شی چې د ساحل په شاعرۍ کې د او ورسره ورسره عالي فکرونه. شاخص په توګه ورته پام وراوړي، هغه د شاعرۍ باره کې د ده باور او نظر دی چې د ساهو ادب او هنر څرک ځنې له ورایه څرګند ېږي.

د ساهو او یادګار ادب او هنر د پنځونې هیله د لوی شاعر او هنرمن کار دی. ساحل غزل او سندره د دې له پاره لیکي چې له محبوب سره یې د یادګار په توګه پاتې شي. مرزا خان انصاري رحمة الله علیه هم د یادګار ادب او هنر خبره کړې ده.

په نیمو شپو د غزل لیکلو له پاره ریاضتونه ضرور اثر لري. اثر یې دا دی چې د شعر ملکه به ورته ډېره لاسو کې نیسي چې دی ورته خپل

شعر ولیکي. بلې؛ شاعر چې د چا ښکلا ستايي، هغه هم ښاغلی نعم البدل ورکوي.

ساحل هغه غرونه د زړه له تله راالتهېدلي ګڼي چې تر خدايه رسېږي. د شعر يو تعريف هم دا دی چې غږ به يې د زړه له تله راپورته شوی وي.

ساحل مدعي دی چې د افلاتون غوندې ډېرې د کار خبرې لري. په کار دي چې غوږ ورته کېښودل شي. دا د شعر باره کې د ساحل تر ټولو جوته نظريه ده. افلاتون د شاعر مخالف وو. له خپل جمهوريت نه يې ايستی. مګر، پخپله د ده خبرو ته چې ګورو، هغه هم شاعرانه خبرې دي. ساحل د افلاتون غوندې د شاعرانه خبرو مدعي دی. له مخاطبه غواړي چې سندرې يې واوري. ځکه چې دی ورته پيغام لري. د ساحل دا خبره د ښې وينا تر ټولو ستره ځانګړتيا ده او دا د شاعر فني او هنري نظريه راښيي.

ساحل د شاعرۍ له پاره سندريز چاپېريال او کليوالي ښکلا ضروري ګڼي. دی وايي چې بې له دې نه به شاعري لطافت ونه لري. دغه راز، دی د ژوندۍ شاعرۍ خبره کوي او د هغې له پاره طبيعي چاپېريال ضروري ګڼي. چينار، چينه او واورين غرونه د طبيعت ښکلي مظاهر دي. د ساحل يوه بيت کې له "اجمل" څخه مراد "اند" دی. اما د ښکلي په معنا هم پر ځای دی. او د شاعرۍ له پاره د ښه همعصر شاعر سمبول هم کېدی شي. يعنې، د ښې شاعرۍ له پاره ښه شاعر ملګری يا ښه اورېدونکی په کار دی.

ساحل د خپلو خبرو په پوخوالي باور لري. دی د پاخه کلام خبره کوي؛ وايي چې شاعري په لفظ کې نه، بلکې معنا کې ده. ده د خپل غزل د اوربدا او لوست له پاره ډېر لوړ معيار ټاکلی. دی د شاعرانو له پاره غزل ليکي. رښتيا هم چې غزل په شاعرۍ کې د خواصو متاع ده. او زياتره په همدې نيت ليکل کېږي چې خواص يې واوري او ولولي. د دې له پاره چې د ساحل اوربدونکي زيات شي، نو له ببټ نيکه څخه په تفاوت، د وګړيو پر ځای د شاعرانو د ډېربدا دعا کوي.

ساحل وايي چې شاعر به د ښکلا لېونی وي. د ده په باور، د غزل د ښکلا له پاره ايډيل په کار دی. ايډيل فکر دی. پر دې سربېره چې په يوه بل بيت کې يې له "انده" مراد "اجمل" دی، د ايډيل او فکر معنا هم ورکوي. د ده په نزد، بې فکره غزل د فکر د هغه هومره ښکلی نه وي.

ساحل وايي چې د شاعرۍ له پاره پخه يارانه، مزبوت زړه او ښکلې زمانه په کار ده. خوشحال بابا او کاظم خان شيدا رحمة الله عليهما هم مضامينو ته د زړه د توجه خبره کوي. هو؛ زړه کې چې زور وي، نو توجه ښه کولی شي.

هر کار اراده غواړي. ساحل د شاعرۍ له پاره خاصه اراده لري. د ده اراده دا ده چې شاعرۍ کې دې معنا وي. جالبه يې لا دا ده چې د معنا له پاره هم د هغې د نوعيت تخصيص شرط ګڼي..... په شاعرۍ کې د ساحل د هنري او فني نظريې باره کې د پاسنيو خبرو د زباتولو له پاره د ساحل دا لاندې بيتونه لولو:

څو غزلې، څو سندرې خوار ساحل درته لیکلي،
اوس چې ځي له دې دنیا نه، دا دې تا سره یادګار وي.

هغه غرونه به د زړه د تل غرونه نه وي،
هغه غرونه چې له دې ځایه تر خدایه نه ځي.

د افلاتون په څېر بلا د کار خبرې لرو؛
مونږ ته هم غوږ ونیسئ، مونږه هم سندرې لرو.

سندریز وطن کې اوسم؛
څومره پام راباندې شوی.

حتما به یې ساحله، شاعري ببرته ژوندۍ شي،
چینار، چینه، اجمل او بیا سپین غر چې مخامخ شي.

ښکلي په لفظونو باندې زړه ساتي؛
ښکلي په شعرونو پسې نه ګرځي.

مونږ د کلي ښایستونه لولپه کړه؛
مونږ چې سپوره شاعري په ښار کې وکړه.

اوه! ساحله، ستا خبرې خو پخې دي؛
چې په لاره ځي کافره سړی مات شي.

شاعران به ستا غزل اوري ساحله؛
تل د ډېرو دعا وکړه کم دې نه وي.

اوس مې چې غزل درته ښه نه ښکاري،

ښه پوی یې چې اند له ما نه لرې دی.

یو وخت وو، شاعري وه، یارانه وه، زړه کې زور وو؛
د ښکلیو په څېر ښکلې زمانه وه، زړه کې زور وو.

ساحله، ستا په ارادو باندې به پوی شو خیر دی؛
چې تا په څه ډول معنا له مونږه زړه وړی دی.

ساحل د شاعرۍ باره کې د همداسې پخې هنري او فني نظریې په مټ دا لاندې او دې ته ورته نور ګڼ مظامین پیدا کړي دي:

ته چې راسره یې نو اکثر ښکلي،
اور اخلي، اینه لاسو کې ونیسي.

بلا مودې وشوې چې داسې په سجده پاتې دی؛
دا سړی څوک دی چې په واوره کې خوله پاتې دی.

سترګې ښې په دې چې بهر لار لري؛
زړه کې ګوزاره د سړي نه کېږي.

یوه تشه خوله خندا او مسک برېتونه،
دا وګړي بس همدغو مره خوږمن دي.

په کوڅه کې یو هلک د ونې شا ته،
او جینۍ ناسته په بام د مینې ښه.

دا شیبې د مینانو ښکاره ښې،
پلی تګ او له باران سره په لاره.

زه که د هر سړي په کار شم موري،
چې ستا سپرلی نه شومه، هېڅ نه شومه.

زه خو یې د سولې خلاف بولمه؛
چېرته چې په مخه دروازه راځي.

لږه موده کېږي چې ته مونږ سره مینه کوې؛
ډېره موده وشوه چې تا له مونږه زړه وړی دی.

د طبیعت له مظاهرو د تعابیرو او معانیوو کښل غښتلې مشاهده او مطالعه غواړي. ساحل باندې الله جل جلاله دغه وړتیاوې لورولې دي:

ساحله، نوې هیلې زړه ته راشي،
سپوږمۍ چې کله هم پر غره ودرېږي.

یا:

دا چې سپینې خولې په بله نه اوړي،
بیا نو په ممانو کې خبرې دي.

ساحل د خپلو داخلي کیفیاتو د رابرسېره کولو، تعبیرولو او تفسیرولو په هنر ښه پوهېږي او د دې ډول استازې غزلې یې لیکلې دي؛ مثلا:

لاره وي، ګودر وي، سړی وډار شي؛
هسې زړه اوتر وي، سړی وډار شي.

(تر آخره پورې)

د ځان فلسفه د خودۍ فلسفه ده. د خودۍ فلسفه یو ډول آینه ده. او په آینه کې ورکېدل واقعا د حیرت خبره ده. د ساحل په شاعرۍ کې پر لوړو تغزلي نزاکتونو سربېره، د لویو فکرونو نښې نښانې ښېخي جوتې دي؛ مثلا:

دلته وګړي د خپل ځان په فلسفه کې ورک دي؛
ټول مخامخ ورته ولاړ، خو آینه کې ورک دي.

(تر آخره پورې)

د ساحل شاعري د پښتون قام د دې وخت استازې شاعري ده. که له یرغلګرو څخه د کرکې او نفرت خبره نه وي، نو د هلمند بیا بیا ذکر او فکر د ساحل په شاعرۍ کې نور څه پیغام لرلی شي؟!

د ملایانو خبره، حاصل د کلام دا دی چې د ساحل شاعري کافي بدیعي او بیاني ښېګڼې لري او له ګڼو مضامینو او معاني وو مالامال ده. زه یې ورته مبارکي وایم او د لا زیاتو بریاوو هیله یې کوم.

نورالحبیب نثار

کابل،

افغانستان.

۲۴/۱۱/۱۳۸۹

# د ساحل د مینې پاڼې

د بختیار ساحل د شاعرۍ پاڼې او یا په بله ژبه د ساحل د مینې پاڼې مې مخې ته غوړېدلې دي. په دې پاڼو کې رېښتیا یوه نړۍ مینه راټوله شوې ، دا مینه کله د جانان د مینې په بڼه ښکاري ، کله د ولس د مینې په بڼه ، کله د خاورې د مینې په بڼه او کله هم د هغه کوچني ماشوم د مینې په بڼه ده چې د جلال اباد په ټنکنده غرمو کې لوخې پښې ځغلې او پر لاروېو او به ویشي . خو مینه ، مینه ده او دومره مینه ځایول د ساحل په شان پراخ زړه او ټټر غواړي.

هو نن زه د مینې پر پاڼو سریزه لیکم هغه هم د یو افغان زلمي شاعر د مینې پر پاڼو چې د ژوند هره پاڼه یې ښایي د نړۍ نور و ځوانانو ته لکه د افسانو هسې ښکاره شي.

خو نه پوهېږم ولې د ساحل په شاعرۍ کې یو بیت د سریزې په لیکلو کې ټکنی کړم .

دا بیت دا دي:

د عشق لفظونه خو خواږه ، خواږه وي
د عشق پر پاڼو سریزه ښه نه وي

رېښتیا وایي ، د عشق پر پاڼو د سریزو لیکل ځکه ښه نه دي چې مینه او عشق کومه ځانګړې توضیح او تشریح نه لري چې سړی دې پرې پوه شي بلکې عشق او مینه حسي بڼه لري چې باید حس شي او درک شي.

زما په باور ټول هغه شعرونه چې یو شاعر له زړه نه لیکلې وي د عشق پانې دي او د عشق پر پاڼو غړېدل ان که عاشقانه زړه هم ولرې اسانه او ممکن کار نه دی.
زه مخکې له دې چې له بختیار ساحل سره اشنا شم د عشق له پاڼو سره یې اشنا وم د یو شمیر ویب پاڼو له لارې مې د ده څو ښایسته ښایسته غزلونه لوستي و او خوښ شوي مې و. او په نالیدلي توګه ورسره بلد وم .
دا مهال په سلګونو ځوانان شعرونه لیکي او سړی هر ورځ د شعر په نړۍ کې له نویو نویو نومونو سره مخ کېږي خو په دوی کې د بختیار ساحل په شان د ګوتو په شمیر داسې کسان شته چې شاعري یې یو لوستونکی ځان ته تمولی او راکښلي شي.

زه د ده څو غزلونو ډېر پخوا همداسې تم کړی وم ، او بیا چې څو کاله مخکې ننګرهار ته ولاړم نو د څو نورو ملګرو سره مې بختیار ساحل هم ولیده او ورسره مې هغه د چا خبره ښه ډېر بنډارونه وکړل. او دده ځینې خوږه غزلونه مې دده له خپلې خولې هم واوریدل.
ما ته د بختیار ساحل په شخصیت او شاعرۍ کې یو شی تر بل هرڅه ډېر مشترک ښکاري او هغه سادګي ده. که ورسره کینې نو کېسې او مجلس یې هم د نویو ځوانانو په شان له ګڼو او ګډوډو رنګونو څخه داسې نه دی جوړ چې پېژندل یې ګران شي او که شاعري یې ولولې نو په غزلونو کې یې هم له داسې کلمو او ترکیبونو سره نه مخ کېږې چې رواني او سادګي په کې نه وي ، او یا یې درک ګران وي.

دی غزل هماسې لیکي هسې چې خبرې کوي او زما په باوردا لوی کمال دی ، ځکه له پیرېو راهیسې په شعر کې د ساده ګۍ خبره کېږي خو ډېر کم په دې پوهېږي چې خپل شعر د سادګۍ پر ښکلا څنګه سنمبال کړي. او ساحل یو له همدې کسانو څخه دی چې پوهېږي ساده ژبه څنګه په هنري او تخلیقي بڼه وکاروي:

بس خو چې چمبه لاسو کې ونیسي
زړونو ته لمبه لاسو کې ونیسي

نورو ته د مینې ترانې وایي
ماته سیپاره لاسو کې ونیسي

ښکلیه ! ستا ساحل به اخر ستا په سر
ټوله میخانه لاسو کې ونیسي

یا یې د یو بل غزل څو بیتونه:

ټول وجود که بایلي نو څه باک نه وي
زړه ته چې خطر وي سرې وډار شي

دا که وي دامن یا د جنګ پیغام
نوم یې چې خبر وي سړی وډار شي

بس خو چې ساحل یې کله نه درلود
رود که سمندر وي سړی وډار شي

که د ساحل شاعري ولولئ نو داسې ډېرې بېلګې به په کې وموموئ چې په ډېر ښکلي انداز ، روانه ژبه په زړه پورې او نوي خیالونه وړاندې کوي.
د ساحل بل کمال لنډون دی. دی هماغومره څه وایي چې په زړه یې دي. لنډ غزلونه لیکي په دې پسې ډېر نه ګرځي چې ولې یې غزل تر یو مخ زیات نه شو ، بس څومره یې چې په زړه وي هومره یې په خوله وي او کله یې چې څه په زړه نه وي نو په خوله هم څه نه ورځي.
همدا راز یې د شعر بحرونه هم لنډ دي. دده زیاتره غزلونه چې ما ولوستل په لنډو بحرونو او وزنونو کې یې ویلي. په لنډ بحر کې د ښو خیالونو راټولول اسانه نه وي خو که د ساحل هسې په نازکخیالۍ راټول شي نو تر هغه غزلونو یې اهنګ او رواني څو چنده زیاته او ښکلې وي چې په اوږدو بحرونو کې ویل شوي. او ساحل ماته په دې چاره کې تر ډېره بریالی ښکاري:

رنګینه شپه ده
تیاره خوره ده

رندان راټول دي
بنګ دي ، نشه ده
غاړه يې سمه
لکه پياله ده
لکه د شاتو
داسې خوږه ده
په يوه غاړه
خوله ، خوله ده
بس مړه ژوند دي
ښکلې کېسه ده.

د ساحل شاعري د نويو ترکيبونو ، تصويرونو او خيالونو له پلوه هم غني ده. دده په شاعرۍ کې ډېر کله داسې تصويرونه او خيالونه ګورو چې نوي دي ، دده خپل دي ، او يا يې په يوه نوې او ښکلې بڼه وړاندې کړي دي:

د افلاطون په څېر بلا بل خبرې لرو
موږ ته هم غوږ ونيسئ مونږه هم سندرې لرو

راځئ چورلکو سره نن شپه ميلمانه يئ زمونږ
غرونه مو مه ولئ په غرونو کې ګورګورې لرو

کابلې ! ستا د یاراني قابل به یو او کنه
ډېرې خو نه خو یوه لپه ملغلرې لرو

په افغانستان کې روان ناورين کلونه زموږ د شاعرانو شعرونه تر اغېز لاندې راوستي او د ساحل په شاعرۍ کې هم دا اغیز جوت دی. دی که د مينې کېسه هم کوي نو په ناخوداګاه ډول ترې کله ناکله خبره د وير پلو ولاړه شي:

یو ازې د سپېڅلې مينې ترېږ دي ساحله
ټول عمر جنګ زپلې او بې وروره جینکۍ دي

*******
ته چې زموږ پيغلې په مرمۍ ولې
ستا پيغلې دې غبرګې په ملاماتې شي

*********
نوره نړۍ د ماشومانو زړونه لاس کې ساتي
زموږ واړه خو يا اوبه او يا سابه خرڅوي

ازاد بازار دی ،نو سړی به په کې څه ووايي؟
څو سره او سپين راوړي او څوک په کې واړه خرڅوي

سره له دې چې بختیار ساحل زموږ د ځوانو شاعرانو په منځ کې د ګوتو په شمار څو تنو څخه دی چې د شعر چینه یې ډېر ستړې ځان ته راستنولی او دمه کولی شي خو دده د شاعرۍ څومروالي ته چې ګورم نو یو اندیښنه هم راسره پیدا کېږي.
نه پوهیږم چې ښاغلی ساحل او یا د ساحل د شاعرۍ مینوال به یې راسره څومره ومني ، خو زه فکر کوم ساحل د ویلو لپاره ډېر څه لري ، ډېر نوي خیالونه او تصویرونه ورسره شته ، له همدې کبله ، دی کله ډېر په بېړه شعرونه هماسې چې ورته راځي لیکي یې او خپروي یې. او په دې توګه ځینې ډېر ښه تصویرونه او خیالونه چې پنځول یې یوازې د ساحل په شان ښه شاعران کولی شي ترې یو څه ناتراشل شوي پاتې شي.
زه ډېر کله په فیسبوک او نورو ویب پاڼو کې ددې زلمي شاعر له نویو شعرونو سره مخ کېږم او لولم یې ، دا ډېر ښکلې وي ، خو زما په اند هغوی چې د بختیار ساحل په شان له ځانه سره د نوي خیالونو او تصویرونو بډايې زیرمې لري که خپلو شعرونو او غزلونو ته لږ نور هم تم شي ، له بېړې کار وانخلې او پرلپسې کار پرې وکړي نو باور لرم چې شاهکارونه به وپنځوي.
په پای کې به ووایم چې د بختیار ساحل دا ټولګه په خپله لمن کې لکه د عشق د پاڼو په شان ډېره خوږلنۍ لري ، ما یې د هر غزل له لوستلو خوند اخیستی او هر غزل مې د خپل زړه غږ ګڼلی دی. زه باور لرم چې ددې ټولګې له لوستلو وروسته به راسره نور لوستونکي هم دا ومني.

ساحل د عشق ګڼې کېسې د ویلو لپاره لري خو ددې کیسو اوریدونکي باید له مینې ډک زړونه ولري څو زموږ د زلمي ساحل د سندرو په شور کې کې د مینې د رازو نیاز خوند وڅکي.
لوستونکې ددې ټولګې لوستلو ته رابولم ، ساحل ته دعا کوم چې د شعر چینې دې یې تل تر تله تاندې وي او خپلې خبرې دده له شاعرۍ څخه د خپلې خوښې په څو بیتونو پای ته رسوم:

بلا مودې وشوې چې داسې په سجده پاتې دی
دا سړی څوک دی چې په واورو کې خوله پاتې دی
سپوږمۍ خو لاړه سپوږمۍ مخ څادر کې ونغاړلو
ساحل ویده کړئ، ساحل هسې شوګیره پاتې دی
په مینه او درناوی

اجمل اند
د مرغومې دیرشمه نیټه ، ۱۳۸۹ هـ ل
پراګ ، د چیک جمهوریت

# د ښایستونو انځورګر

داسې مهال و چې د ښوونځي د لیسې دورې ټولو زده کوونکو سره مې پوره پېژند ګلوي نه درلوده هغه زده کوونکي به زموږ د زړه په کور کې ځای پیدا کاوه چې یا به د بشپړ اخلاقي تهذیب پر ګاڼې سینګار و او یا به یې فطرت تازه تازه د هنرونو سیمې ته د ښکلاګانو نندارې ته هڅاوه احمد بختیار ساحل هم د میاعمر (رح) د ښوونیزروزنیز او فرهنګپال چمن نوی ټوکېدلی ګل و چې د زده کړې ترخنګ د فطرت مستۍ دده ښکار ته ملا تړلې وه او غوښتل یې چې د هغه مهال د خاموشو غوټیو خولې یې پرانیزي او په نازکه مسکا یې د چمن نور ګلونه هک پک کړي دا داسې حساسې شېبې وې چې ساحل د احساس رڼا دده د خیر او عقل چاپیریال ته په ورو ورو خورېده او شبنم د خاموشۍ په څېر یې دده په زړه کې د محبت د ښار د دودانۍ پیل کاوه حالات که هرڅنګه وو خو د ساحل په هوښیارو او غزل زارو سترګو د ښو سورې داسې راخور و چې له ورایه په کې د مینې عاجزي ، صمیمیت او اشنایۍ مشالونه مانیزې رڼاګانې کولې کله کله به یې د فکري او عاطفي تړون یوه یوه بېلګه د ښوونځي ښوونکو او زده کوونکو ته د علمي او فرهنګي غونډو بهیر کې ور اوروله چې د هغوی لخوا به په ګرمو ولولو بدرګه کېده ساحل د وخت په تېرېدو له ښوونځي فارغ او بیا د پوهنتون په انګړ ورننوت خو دفطرت چینې یې لا هماغسې تاندې دي چې د الهام په بلنه ترېنه دده د شعر پېغله ښاپېرۍ منګی په لپو ډکوي.

د ساحل شاعري که د الهام هار په غاړه لري نو ترڅنګ یې د ریاضت خالونه هم په جبین بربښي چې دا دواړه زرین اصلونه یې شاعرۍ ته د پیاوړتیا انرژي او خوړلني ښني. همدا لامل دی چې ډېرغزلونه یې د هنریت، شعریت میني، انځورګرۍ تخیل او پیغام په ګاڼه پسولل شوي دي د نوموړي شاعرۍ کې هېوادنۍ مینه، د ملي ارزښتونو درناوی، پښتو او پښتونوالې سره مینې ته ډېره پاملرنه شوې ده که څه هم چې ساحل لا زلمی دی شاعري یې پخلي ته اړتیا لري خو بیا هم د ژبې د ښکلا ییزې برخې د پاللو ترڅنګ یې یو شمېر داسې سمبولونه کارولي چې د کلیوالیزو، غریزو، انځورونو په څنګ کې د ښار د ښکلاګانو کیسې هم کوي.

ساحل چې کله د خپل ټپي ټپي هېواد انځورګري کوي بیا نو په هنري ژبه د اقصاني ټولنې اصیل رنګ ته داسې اشاره کوي:

څو سپېڅلي شهېدان مې درته پرېښودل په غېږ کې

ډک له ننګ افغانستانه دا دې تاسره یادګار وي

ځي له زړه نه مې سرې وینې راشه خال ترې ځانته کېږده

زه چې مړ شومه جانانه دا دې تاسره یادګار وي

دا سمه ده چې هر شاعر د شعر په ظاهري، تخنیکي یا مانیز جوړښت کې د تخیل پر مټ ځانته کوم معنوي پیر او لارښود ټاکلی وي چې یو شمېر شاعران بیا کله کله خپل احساس او الهام د خپل خیالي لارښود فکر او څلي ته سلامي کوي او ځینې نور خو بیا د خپل فکري رهبر سره د فکري ځنځیر د تړلو سربېره آن تر لفظي جوړښته لاسنیوی کوي ساحل هم ځانته دوه داسې پیران په نښه کړي چې یو

يې د لرې پختونخواه د با احساسه او غیرتمنو پښتنو په زړونو واکمني کوي او بل هغه يې د برې پښتنوانخواه د ددنګو چينارونو اونښترونو له هسکو څوکو څخه د ټولنې د درمنو او ټپې ټپي زړونو انځورګري او ترجماني کوي:

ستا مريدي خيال به يو اځې شي بې پيره به شي
ساحله دا درو يش او دا کاروان به پاتې نه وي

دا چې ساحل دا افغاني غيرتي او ننګيالې سيمې زيږنده دی او د افغانانو طبيعت کې فطرتاد وطن مينه او وطنپالنې روحيې ژوندۍ وي که هرڅو کړمن او دردمن يې بيا هم د رقيب ټګي نه شي زغملی ساحل هم په ډېره مرموزه او پرده پوښه ژبه باندې د دښمن ماهرانه يرغل ته داسې اشاره کوي:

بس خو چې چمبه لاسو کې ونيسي
زړونو ته لمبه لاسو کې ونيسي
نورو ته د مينې ترانې وايي
ماته سيپاره لاسو کې ونيسي

ساحل چې کله ادبي صنعتونه په شعر کې رانغاړي نو له خورا نازکخيالۍ څخه په کې کار اخلي د بېلګې په ډول يو ځای کې د تلميح صنعت داسې انځوروي چې لوستونکي د خوشال خټک سره د بې مانا مينې څخه ګانده کې حقيقي او رښتينې مينې لور ته ځير کړي:

چا يې د تورې او قلم درناوی نه دی کړی
هسې په ژبه د خوشال خبرې ډېرې کېږي

ساحل لا په ګوتو شمېر د عمر څو پسرلي نمانځلي خو فکري ځواک يې دده د عمر وړاندې هېوادني ملي او افغاني دوديز سمبولونه د شعر په مزي کې داسې پېيلي چې له يوې لورې د شاعر فطرتي وړتيا او له بلې لورې يې تاريخي رياضت په غېږ کې رانغاړي د بېلګې په ډول:

ترڅو چې مينان يو نو کچکول به ګرځوو
غزا ته چې ورځو په غاړه ډول به ګرځوو

هر شاعر خپلو شعرونو کې ځانګړي سمبولونه او يو شمېر داسې نومونه کاروي چې کله يې ياد شي او کله بدې پايلې لري ساحل هم کله د خپلې مجبورۍ په پلمه په تشبيهي بڼه ديو داسې توتي نوم باندې زړه ته سکون ورکوي چې مذهبي او اخلاقي لحاظ سره ښه تاريخچه نه لري خو شاعران يې د شاعرانه دود له امله شعرونو کې يادوي:

چاره مو نشته شوګيرو مو سترګې وخوړلې
اوس شپې د بنګو په نشه د چا په ياد تېروو

ساحل د خپلې ټولنې د انځور کاږلو فن کې نا اشنا مهارتونه کاروي کله چې اساسات او ارزښتونه يادوي او کله چې بيا زړونو د ناچارو سوداګرو لخوا د انساني ښکلاګانو د سمبولونو پلورونکی داسې په نښه کوي:

څه ناعلاجه زمانه ده خلک زړه خرڅوي
د څو روپيو په بدله کې سپينه خوله خرڅوي

په انساني ارزښتونو مين ساحل که زړونو سوداګرو سره په فکري ډول د مخالفت سنګر نيسي خو ها خوا د عاشقانه مينې خواږه او ګران بيه سمبولونه داسې نمانځي:

يو غزل او يو سلام د مينې ننبه
د هر ښکلي احترام د مينې ننبه
د بل غم سره داوښکو لارې لارې
په ګلونو باندې پام د مينې ننبه
په کوڅه کې يو هلک د ونې شاته
او جينۍ ناسته په بام د مينې ننبه
د مشرانو د خبرو اورېدنه
د ماشوم په خوله پيغام د مينې ننبه

د دې لالهانده نړۍ غبېږ کې هر انسان دارام ژوند ارمان په زړه کې لري خو د ډېرو د ارمانونو غوټۍ هماغسې غوټۍ پاتې او دوی ترېنه دبرزخي نړۍ په لور کډې وتړي. ساحل چې کله د ژوند له تړاونو ستړی ستومانه شي نو داسې انګيري چې سکون به برزخي کور کې وي:

کله چې ساحله سترګې پټې کړي
هله به ارام ته سړی ورسي

د ساحل ځيني غزلې د ګلونو د بڼ په څېر په رنګارنګ پيغامونو او ښايستونو پسوللې ښکاري چې د خوږو لفظونو هره غونچه يې د ګل په څېر په خاموشه ژبه لوستونکو ته غزليزه ويانديي کوي لکه:

نه ګرځي ګلونه پسې نه ګرځي

خلک د چا زړونو پسې نه ګرځي
ښکلي په لفظونو باندې زړه ساتي
ښکي په شعرونو پسې نه ګرځي
هر پردی زموږ د غرونو تږی دی
څوک د چا غمونو پسې نه ګرځي
هېڅوک دلته روغه ستړه نه غواړي
هېڅوک په سرونو پسې نه ګرځي

زلمی شاعر کله کله د ډېره ناهلي ښکاره کوي او د انسانیت د اصل بڼې د رنګ د پیکه کېدا لامل اند ېښمن کېږي نوموړی د بل انسان د زړه جونګړې ته د رسېدلو کمال او هنر ته ژمن دی دا چې دا مهال انسانان له دې ګټور هنر څخه بې برخې او ناخبره دي د همدې له امله د ناهیلۍ غږ داسې کوي:

خلکو وکړلې د غرونو منځ کې لارې
مونږ و نه شول کړای د زړونو منځ کې لارې

ساحل چې کله د الهام په اشارو دژوند ناوې ته د لونګو امیل په کار بولي نو ترڅنګ یې د ژوند له ناخوالو داسې سرټوکي چې آن زمانې ته هم د بدرنګه کلیمه کاروي ، زمانې ته بد او بدرنګه کلیمې کارول یو شمېر شاعرانو شاعرانه دود دی خو دا داسې دود دی چې اسلام کې زمانې ته بد ویل د کنځلو په نوم نومول شوی دی او داسې کنځل چې نسبت یې د کایناتو خالق ته کېږي شاعران به داسې کلیمو ته ډول ډول تعبیرونه ګوري خو د شرعي اساساتو په وړاندې یې تعبیر د سیلاب مخې ته د شګو د پل بڼه لري ، ګران ساحل ته مې

سپارښتنه دا ده چې د عقيدې او قلم سپېڅلتيا او عفت ته تل لپاره ژمن پاتې شي او د قلمي اخلاق تقدس ترڅنګ شاعرانه تقدس ته درناوی هم خپل مسوليت وګڼي نو موږ ی دلونګين اشنا هيلې سره د زمانې او خلکو عکس العمل د خپل ځان په وړاندې دا سې انځوروي :

د ژوند دخوشبويۍ لپاره ښه لونګ په کار دي
که خدای چېرې نېږدې کړي لونګينه را سره
ساحله يو بدرنګه زمانه کې پيدا شوي
دا خلک او حالات چې دي بدبينه را سره

د نړۍ د جفا تاريخ هر وګړي ته روښانه دی هرڅوک پوهيږي چې د دنيا کور د مېلمستون ښه لري هر څوک ترښه درومي خو د دې هرڅه ترڅنګه د دنيا ناولی ځان په دا سې ګانه سينګاروي چې څوک له دين او څوک له زړګي نه خلاصوي چې ساحل د دې کوډګرې ماهرانه مکر ورک کړی او د دې د رنګينيو د ګل ورين انقلاب په جفا او فنا پوه شوی دی نو ځکه يې د زړونو د قاتلې او بنګړيوالې سره په ملګرتيا تورنوي:

اوس چې زړه دې رانه وويست لږ يې پرېږده
خير دی دا سې يې دستې په لاس کې مه وړه
له زړګي نه مې سرې وينې رابهيږي
مړه شې مړه شې سره بنګړي په لاس کې مه وړه
نه ، ساحله چې د ښکلو ناز دې نه زده
بيا نو ته هم سپېلني په لاس کې مه وړه

په هر حال د ساحل د سکون بڼ رنګارنګ ګلونه لري يو دا سې څوک چې نه يې د شاعرانه صنعتونو کاروبار کړی وي او نه يې د تخيل او تشبيه په ګودرونو يارانه کړې وي ګرانه ده چې د بڼ د ټولو ګلونو ځانګړې ښېګڼې او بدګڼې دې په نښه کړي او په دې اړه دې عادلانه پرېکړه وکړي مايوا ځې د ساحل سره د مينې په بنسټ د سکون پاڼې اړولي او شنه پاڼه دفقير ډالۍ په بڼه مې پرې يو څو کرښې ليکلي په پای کې د احمد بختيار ساحل د ښې رڼې راتلونکې او لازياتې خوږې او پخې شاعرۍ په هيله د کايناتو خالق ته د دوعا لاسونه لپه کوم او ساحل د هېواد د نوميالي ليکوال او شاعر قيام الدين خاد په څو بيتونو خپل برخليک ځلونې ته رابولم:

يا د بل پسې روان شه
يا نور ځان پسې روان کړه
ښه پوهېږمه هوښيار يې
سرېتوب غواړې جهان کې
يا څاروان د قافلې شه
يا روان شه په کاروان کې

په مينه
محمد غني فاروقي
جلال کوټ
مرستون څلو لاری
مسجد مېنه
۲۷_۱_۲۰۱۱

ښخوا که به خلکو د ځینو شاعرانو په شعري ټولګو لیکنې کولې ، نو پرشعرونه به یې ارزول او د شاعر په شاعران کمال به یې خبرې کولې ، خو اوس خلک د نورو کتابونو د سریزو له لارې خپلې شخصي تربګنۍ او دښمنۍ پالي او هغه دچا خبره د نورو له اوږو ډزې کوي.

نو بختیار ساحل هم خپل ( سکون ) راسپارلی ، خدای دې خیر کړي چې له مانه هم هماغې خواته خبره ور کړه نشي.
شا او خوا پنځه کاله وړاندې په افغان کېبل کې مو د ځینو ملګرو په ملتیا د ننګرهار ادبي بنهار تر سرلیک لاندې او نیزې ادبي ناستې پیل کړې ، چې د ننګرهار د سیمې ډیری ځوانان به ورته راتلل. په لومړۍ غونډه کې یوه نري او دنګ ځوان ته چې په ادبي غونډو کې مې د لومړي ځل لپاره لیده ، د شعر ویلو بلنه ورکړل شوه ؛ کله چې ستېج ته ورغی نو دغه دوه بیته یې وویل:
د نړۍ خلک ماغزه وخوري پوهان شي
ځمکه ونیسي او پورته تر اسمان شي
زموږ ځوانان چې لږ په ښو او بدو پوی شي

سم د لاسه ټوپک واخلي قومندان شي
که څه هم چې ډېرې چکې ورته وشوې ، خو ماته يې ډېر خوند راکړ .
له مشاعرې وروسته مې ځواب ته وویل: هلکه ځوابه !د ده سترګې شاعرې دي او ښايي په راتلونکې کې یو سرلارى شاعر شي او همدا وړاندوینه مې دا ده په زبات ورسېده ، اوس يې هماغه ( سکون ) زما په مخ کې پروت دى او څو ورځې وروسته به د چاپ په ګاڼه وپسولل شي.
خير ، راځم د بختيار ساحل شاعرۍ ته ، هغه شاعري چې په ساده خو رنګينو ټکو کې يې د خيال تر څنګ په ښکلو کليماتو پېيلو کې لوستونکو ته پيغام وړاندې کړى.
لکه څنګه ، چې اند په خپل شعر کې چينه ، چينار او سپين غر د سمبولونو په توګه کارولي او شاعري يې ورته کړې ، يا کاروان صيب په خپله شاعرۍ کې له ډېر پخوا د چينار سيوري ته ناست دى او له ښاپيريو سره يې خبرې کړي ، همدا شان ساحل په خپل شعر کې بيا سپوږمۍ سمبول ګرځولى ، چې کله ترې په وريځو کې پټه شي او کله بيا له غرونو پناشي ، کله کله داسې هم کېږي ، چې په شپو شپو يې انتظار کوي او له ېيلېدو يې وېرېږي:
سپوږمۍ يا ته راشه يا ما درسره پورته بوځه
زمونږ ترمنځه د بوال خبرې ډېرې کېږي
يا :
خلکو لمر او ستوري لاس کې ونيول
ما سره سپوږمۍ وفا ونکړله

یا :
سپوږمۍ خو لاړه سپوږمۍ مخ څادر کې ونغاړلو
ساحل ویده کړئ ساحل هسې شوګیره پاتې دی
ساحل هڅه کړې ، چې په شعر کې تل نوي توکي او مفاهیم وړاندې کړي او له شعاره ځان وژغوري. سره له دې ، چې ساحل د ملګرو او یارانو په منځ کې پاتې او د بنداړ سړی دی ، خو په شاعرۍ کې له ملګرو یو څه ګیله من ښکاري:
د خیال څپې مې وچې دي په دښته کې روا ن یم
په زړه باندې مې نه اوري باران لکه یاران
یا:
ما چې په کومو ځان پا چا ګڼلو
هغه ملګري مې اوس کم پالي
یا :
دلته خلک ډېر مغروره دي من من دي
داسې نه ده چې په چا پسې دردمن دي
یوه تشه خوله خندا او مسک برېتونه
دا وګړي بس همدغو مره خوږمن دي
خو ځینې وخت چې یې ملګرو سره ساعت تېر شوی بیا نو ترې دا خبرې هېرې شوي او د خوشالۍ احساس یې کړی ، په ملګرو یې شکر ایستی او ویلي یې دي:
دا زه ولې کوی نه شم ، ګذران لکه یاران
هر وختې ښکلووم د خدای قران لکه یاران

د هرې زمانې د سود او زیان کیسه کې نه یم
الله را کړي شکر دی یاران لکه یاران
ساحل په یوې داسې ټولنه کې ژوند کوي ، چې هره شېبه یې له دردونو ، اوښکو او غمونو سره مله ده په همدې موخه هغه یوه حساس او ذهین په توګه ځان په ټولنې نه دی بار کړی بلکې د ټولنې هر غم یې هم په اوږه اخیستی او د خپلې ټولنې د اوسیدونکیو لاسنیوی یې کړی.
ساحل ته خپل غمونه هیڅ نه ښکاري
ساحل له هرچا سره غم پالي
ددې ترڅنګ ساحل له روانې زمانې سره د خپل ولس نا برابري او وروسته پاتې والی ځوروي او وایي ، چې:
یوویشمه پېړۍ هم پای ته رسیږي
خو څوک نه ځي له افغان سره په لاره
که څه هم پورته بیت له منطقي پلوه ناسم دی ، ځکه یوویشمه پېړۍ نوې پیل شوې او که د پای ته رسېدو پرځای یې پیلېدل راغلي وای ښایي بیت ښه راغلی و ، خو دده فکر د ستایلو دی ، ځکه دی په دې عمر کې هم د شاعر هغه مسوولیت ( شاعر د ټولنې سترګې دي یا ژباړن دی ) په ځای کړی او خپلې ټولنې ته نېکه لار ښیي ، چې نړۍ اوس له تاسو سره په یوه لاره هم نه ځي ، ځکه وروسته پاتې یاستۍ او کله چې شاعر د ټولنې همدغه ستونزې درک کړي او سرو شونډو ، اوربل او ..... په ځای ورته د نېکمرغۍ او د ټولنې د پرمختګ

نسخې ورته ښيي ټولنه يوې ښې لارې ته سوق کولی شي ، چې دا ديوه سالم فکر لرونکي انسان نده ده .
دا د ساحل لومړی شعري ټولګه ده ښايي نيمګړتياوې ولري ، ځکه انسان تر خپله وسه پر دی خو زه پرې څه ځکه نه وايم چې د ښېګړو په پرتله يې نيمګړتياوې کمې دي.
نورنو د لوستونکيو او ( سکون ) ترمنځ د ېوال نه جوړېږم خپلې خبرې د ګران بختيار ساحل په دې بيت رانغاړم چې:
يا خو د مور غېږه يا د يار کوڅه
بل ځای کې دمه د سړي نه کېږي
استاد شېرحسن کمالزی
د ننګرهار عالي دارلمعلمين

# وړې خبرې

د میاعمر عالي لیسه هغه نوم دی چې ما یې د ځلورو
دېوالونو په منځ کې دومره څه زده کړل چې دغه دی نن مې
ستا سو مخې ته ایښي دي.
زما یوه کمزوري دا ده چې خپلې خبرې نه شمه پېیلی
موضوع رانه اخوا دېخوا زغلي خو په دې ډاډمن یم چې
تاسو به مې دې کمزورۍ پسې سر نه خوږوی او په خندا
خندا به مې دا سولېدلي الفاظ لولئ.
زموږ د لیسې خوبي په څه کې وه چې زه یې نن دومره
احسانونه په ځان منمه؟ تر ټولو ښه یې دا وه چې فرهنګي
مفکورې په کې د قدر وړ وې د فرهنګ لارویو ته د ننه په
لیسه کې هرچا په درنه سترګه کتل چې تر ننه مې هغه مینه
په سترګو کې ده او زړه مې پرې ګواهي ورکوي.
زه مې بیا خپل ځان ته ډېر حیران ومه چې دا خلک د کومې
ځانګړنې له مخې زما قدر کوي، ما تر ډېره دا هڅه کړې ده
چې دا لامل پیدا کړم خو تر ننه پرې نه یم بریالی شوی،
ځینو خوا خوږو ملګرو به مې بیا راته ویل چې شعر دې په

خلکو ښه لګیږي چې قدر دې کوي که نه نو کومه بله ځانګړنه خو په تا کې هم نشته.
زه بیا همدې خبرې ته حیران پاتې کېدم او پاتې کېږم کوم شعر چې زما د زړه را پاربدلي لیوني احساسات نه شي تسکینولای نو هغه به د نورو په درد څه دوا شي.
په هر صورت ما خپلو ټولو ملګرو ته ویلي دي چې که زه ژوندی یم هغه د ډاکټر صیب صابر په خبره د یو څو یارانو د مینې له وجې او د خپلو وړو وړو بې نظمو خبرو له وجې چې خلک یې شعر بولي.
یو مهال داسې و چې په ښوونځي کې به مې تر څنګ ناست ټول خلک بدې راتلل د ښوونځي تګ به راته داسې ښکارېده لکه سړی هره ورځ داسې ځای ته ځي چې هلته دده دښمنان وي خو دا ټولې خبرې ، سړې تودې او مجبوریانې تېرېدې او ماته یې نوې خبرې او خیالونه راښښل ، د څنګ ملګري مې هم په پیل کې ډېر کم ول ماته به یې ویل هلکه ! ته داسې یو عجیب غوندې ټیپ لرې سړی دې والله که چندان په سور پوهېږي او د شاعرانو ټیپ هم همدارنګه وي کېدای شي یوه ورځ به شاعر شې ، د امې نو د ملګرو خبرې وې خو رښتیا هم که شاعر شوی نه یم په

ثلريشت ساعتونو کې دولس ديارلس ساعته د شعر په لوستلو ، له شاعرانو سره په ناستې او يو څه په شعرونو د فکر کولو له وجې رابانده تېرېږي او پاتې نور وخت د لېوني په څېر په لارو او کوڅو کې په ګرځېدو تېروم په دې موخه که کوم نوی خيال خدای را نازل کړي او زموږ خوب خو هسې هم د جنګي پوځيانو غوندې دی.

کوم ملګري چې له شعر سره مينه لري او غواړي چې شاعر شي په دې اړه دې ډېر سوچ نه کوي يواځې همدومره به بس وي چې هغه د شعر له لوستلو سره مينه لري که چېرې دی شاعر شي نو بيا هېڅکله هم د نورو ښه شعر نه شي زغملی چې دا زما خپله يوه تجربه ده د دنيا شهکار غزل يا نظم به درته داسې ښکاري لکه اوتې بوتې خو خپلې به درته داسې وي لکه د کاڼي کرښې.

زه په دې اعتراف کوم چې زما خبرې بې تولې او بې وزنه دي خو تاسو مې لاس نيوی کوئ او زغمی مې.

ما د خپلې ټولګې د چاپ کولو کوم سوچ نه درلود خو فيسبوک يوه داسې پاڼه ده چې د دنيا خلک په کې دي او يوه شېبه کې له ډېرو خلکو سره ملګری کېږې نو په همدې پاڼې نوي شعرونه خپرول چې يو ملګری مې په کې ومونډ

لومړی خو یې په خپله پانه سمسور ډاټ کام کې راته شعرونه خپاره کړل او بیا یې له څه موده وروسته دې ته هم غاړه کېښوده چې راته یې په کتابي بڼه چاپ کړي او دغه دی نن یې دا ژمنه پوره کړې ده چې دا ښاغلی سمسور حبیبي نومیږي او اوس په ډنمارک کې د نوور ډېرو افغانانو په څېر مسافر دی ، استاد شېرحسن کمالزی زما یو لاربښود دی او که چېرې زه د ده احسان هېر کړم نو خدای شته چې یوه ستره جفا به مې کړې وي چې زما په غوښتنه یې راته سریزه هم لیکلې ، اجمل اند ته زه د پیر په سترګه ګورم دده شعر چې مالوسته نو دد دلیدلو ارمان مې خدای شته چې کړی او دا سوچ مې نه و کړی چې دا ښاغلی به مې په شعر باندې یو وخت لیکل هم کوي چې نن مې دا ارمان پوره شو ، نورالحبیب نثار هغه نوم دی چې خلک یې په دې نوم په خوله اخلي چې د ښه شعر د لیکلو ترڅنګ په ښه شعر ډېر پوهېږي چې ده هم زما غوښتنه منلې او راته یې په کتاب لیکل کړي دي ، استا د محمد غني فاروقي مې د لیسې له وخته رانیولې او تر ننه ښوونکی دی چې ده هم راته په ښه ذوق لیکل کړي دي ، ډاکټر حبیب الله حکمت بیا هغه نوم دی چې زه به یې په زوره ښوونځي ته بیولم او د

پوهنتون په وره يې هم را ننويستی يم چې زما پلار ورته زوی وايي او زه ورته ورور او زما په اړه دده خبرې ماته ډېرې جالبې وې چې يو څه رانه هېرې شوې هم وې ، او که سړی نصرت الهام له ياده باسي هغه ته به د هنر او مينې قدر نه وي زده ځکه په داسې وخت يې دا کتاب ډيزاين کړ چې د زړه يوه قطره يې له لاسه ورکړې وه زوی يې په حق رسېدلی و خو ده زما کتاب ډيزاينا وه.

زه چې له چا سره پېژنم او ما چې څوک پېژني هغه ټول بايد زه په زړه کې وساتم او په هر وخت کې ترې مننه وکړم ځکه نن سبا په لارو کوڅو کې راته خلک مينه راکوي له لرو لرو ځايونو راته زنګونه وهي چې دا زما د ژوند د خوښيو اوج دی ، اوس درته د کتاب د لوستلو بلنه درکوم او په دې درنه بخښنه غواړم چې زما اوږدې او بې توله خبرې مو راسره په ورين تندي ومنلې او ولوستې.

په درنښت

احمد بختيار ساحل

۲۰۱۱_۱_۲۳

ننګرهار کليد راډيو

واک به مو بل سره وي یاره ځان به پاتې نه وي
مینه الفت به نه وي دا جهان به پاتې نه وي

چې زۀ پرې بیا اوښکې دمه کړم او ته ګورې ورته
ستا تر راتلو پورې اشنا ګرېوان به پاتې نه وي
جنون ، ساغر او مې دا درې واړه به ورک ورک وي
دامیکده به نه وي دا رندان به پاتې نه وي
راځه یو ځلې راسره دزړه خبرې وکړه
بیا نو که مرمه ګوره بل ارمان به پاتې نه وي

ستا مریدي خیال به یو واځې شي بې پیره به شي
ساحله دا درویش او داکاروان به پاتې نه وي

دا څـــو اوښـــکې دي ګرېوانـــه دادې تاســـره یادګـــاروي
دا مـــې درکـــړې لـــه خپګانـــه دادې تاســـره یادګـــاروي

څـو سـپېڅلي شـهیدان مـې درتـه پرېښـودل پـه غېـږ کـې
ډک لـــه ننـــګ افغانســـتانه دادې تاســـره یادګـــاروي
ځـي لـه زړه نـه مـې سرې وینـې راشـه خـال تـرې ځانتـه کېږده
زه چـــې مـــړ شـــومه جانانـــه دادې تاســـره یادګـــاروي
څـو ترخـې خـاطرې واخلـه پـام چـې څـوک پـرې خبـر نـه شـي
زړه مـــې تـــوردی لـــه هـــر چانـــه دادې تاســـره یادګـــاروي

څـــو غزلـــې څـــو ســـندرې خـــوار ســـاحل درتـــه لیکلـــي
اوس نـــو ځـــي لـــه دې دونیـــا نـــه دادې تاســـره یادګـــاروي

د خلکو منځ کې اشاره ښه نه وي
په تنهايۍ کې بهانه ښه نه وي

د مينې کور ته مخامخ ځي سړی
په دروازه کې يې دمه ښه نه وي

د عشق لفظونه خو خواږه خواږه وي
د عشق پر پانړو سريزه ښه نه وي

قد د چنار په شان او د نګه غړۍ
هسې لنډۍ بوچۍ وړه ښه نه وي

ساحله سر تاو کړه او ده شه کرار
بس هره شپه خو شوګيره ښه نه وي

يــو عشــق و يــو خلــوص و بــل ارمــان و راســره
همدغـــــه برکـــــت و چـــــې جانـــــان و راســـــره

يـو چـا ويـل چـې تـش لاس د جانـان کـوڅې تـه مـه ځـه
يــو چــا ويــل چــې نــه تلمــه خــو ځــان و راســره

بس خو چې چمبه لاسو کې ونيسي
زړونو ته لمبه لاسو کې ونيسي

نورو ته دميني ترانې وايي
ما ته سيپاره لاسو کې ونيسي

زه چې نيمه شپه غزل شمه
څوک راته ډيوه لاسو کې ونيسي

ته چې راسره ګرځې اکثر، ښکلي
او راخلي آيينه لاسو کې ونيسي

ښکليه ! ستا ساحل به اخر ستا په سر
ټوله ميخانه لاسو کې ونيسي

کله چې هم زما په برخه کې جانان ورسي
زما ګاونډ او زما چم ته بیا شیطان ورسي

خپلو کړو وړو خبرو ته خوشحاله ومه
خو په دې نه ومه چې تا ته به تاوان ورسي

لږ چې چا ورته لو لږ چې چا خپه غوندې کړو
زمونږه زور ایله په خپل څېرې ګرېوان ورسي

بس په ایمان یې درته وایمه باور پرې وکړه
هر څه به بې خونده شي چې تا ته څه خپګان ورسي

د ډېرو ښکلو له دعا څخه بې برخې شومه
یقین مې نه شي چې منزل ته مې کاروان ورسي

ستا د نظر غشي چې نه ودرېږي
یاره ! زما به اخر زړه ودرېږي

ګیلې مې تولې خولې ته راولمه
چې موکه راشي بیا مې خوله ودرېږي

نور هر سړی ترېنه په زوره تېرېږي
زمونږ سندرو ته کانه ودرېږي

زمونږ د بخت مرغه خاونده هر وخت
چې څنګه شي په الوته ودرېږي

ساحله ! نوې هیلې زړه ته راشي
سپوږمۍ چې کله هم په غره ودرېږي

رنګینه شپه ده
تیاره خوره ده
رندان راټول دي
بنګ دي نشه ده
غاړه یې سمه
لکه پیاله ده
په یوه غاړه
خوله ،خوله ده
لکه د شاتو
دا سې خوره ده
بس مړه ژوند دی
ښکلې کیسه ده

لاره وي ګـــــودر وي ســـــړی وډار شـــــي
هســـــې زړه اوتــــر وي ســــړی وډار شــــي
څــــومره کـــه ديـــار ســـره تنهـــا وي څـــوک
بيـــا هـــم يـــو نظـــر وي ســـړی وډار شـــي
دا مخلـــوق او دا زمـــان چـــې وګـــورې !
څـــومره چـــې بـــاور وي ســـړی وډار شـــي
ښـــکلي چـــې دمـــرګ پـــه نـــوم راوتـــي وي
يـــو وي کـــه لښـــکر وي ســـړی وډار شـــي
دغـــه مېخـــانې دې نـــورې ړنګـــې شـــي
هســـې هـــم کـــه شـــر وي ســـړی وډار شـــي
ټـــول وجـــود کـــه بـــايلې نـــو څـــه بـــاک نـــه وي
زړه تـــه چـــې خطـــر وي ســـړی وډار شـــي
وي د جنـــګ پيغـــام او کـــه د امـــن وي
نـــوم يـــې چـــې خبـــر وي ســـړی وډار شـــي
بـــس خـــو چـــې ســـاحل يـــې کلـــه نـــه درلـــود
رود کـــه ســـمندر وي ســـړی وډار شـــي

نن په دې پورې میخانه کې یوه شپه کومه
چې هر څه کېږي بس ګناکوم نشه کومه

چې ستا قامت او ستا رخسار ستايم نو بیا دلبره !
هغې غزل ته پوره درې شپې شوګیره کومه
د مخورو او سپین ږیرو خودې ونه منل
داخل د کلي لېونو باندې جرګه کومه
لېونی نه یم، چې په ځان راټولومه خلک
په زړه مجبور یم، چې رباب وهم ټپه کومه
هر ځل په کاڼو بدرګه یو خو بیا هم درځمه
ستا په کوڅه کې لا غزل لیکم دمه کومه

نن چې دا ستا په مخامخ دلبره چپ ولاړ یم
نن خو دې زه د ښکلي حسن تماشه کومه

راځه راځه اختر دی
مينه کوه اختر دی
په ما اوتا جانانه !
هره شپه اختر دی
وېل د سعودي شپخانو
وخورئ روژه اختر دی
يوه خولګۍ غواړمه
پرېږده بانه اختر دی
(ساحله ) !ونه سوځې
لمبه لمبه اختر دی

د مسلمان بچي دکفر تر سرايه نه ځي
که ټول له لوږې مري خو بيا هم تر بډايه نه ځي

هغه غږونه به د زړه د تل غږونه نه وي
هغه غږونه چې له دې ځايه تر خدايه نه ځي

لکه زخمي سپاهي به خامخا پرېوځي آخر
څوک چې دمينې په لار ځي او بيا تر پايه نه ځي

دغه پاچا خو ځان تردې حده بدنامه کړ چې
داخل به دې چوکۍ ته دا دچا په رايه نه ځي

ستړې جګړې ته ځې تکړه ملګري ګوره ځانته
ساحله دوی خو تا سره دجنګ تر ځايه نه ځي

۸۷-۳-۱۱

د یــار چــم د یــار مالــت کــې چــې څــوک ګرځــي
دا ســې وي لکــه جنــت کــې چــې څــوک ګرځــي

ببـــر ســـر ځېـــرې ګرېـــوان نمجنـــې ســـترګې
بـــس دچـــا پـــه محبـــت کـــې چـــې څـــوک ګرځـــي

تا ســـره چــــې ګـــرځم نــــو ســـړی یمـــه
مینــــه یمـــه ژونـــد یمـــه ســـپرلی یمـــه

څــو کـــه هــم لــه خــړو خـــاورو شـــته یمــه
بیـــاهم دچـــا ګوتـــه کـــې غمـــی یمـــه

زه هـــم درنـــه نـــوره مینـــه نـــه غـــواړم
دومــره بــس چــې ســترګو کــې دې ځــای یمــه

څــو کـــه مـــې لاســـونه درتـــه نـــه رســـي
بیـــا هـــم ســـپوږمۍ زه ســـتا لېـــونی یمـــه

خونـــد دښایســـتونو مـــــې څکلـــــی دی
ځکـــــه لا ســــاحل یـــم لا زلمـــــی یمـــــه

ستا له رنګه خلک رنګ اخلي دلبره
د ځواني خومار ته بنګ اخلي دلبره

اوس بې مینې خلک مینه مینه پايي
خو زمونږه زړونه زنګ اخلي دلبره

د ښايست په فلسفې پسې مونږ ورک شوه
خو فايده تربنه بد رنګ اخلي دلبره

ستا په نوم دلته کې ډېر خلک اباد دي
ستا په نوم خلک قلنګ اخلي دلبره

له ساحل سره ی د قدر لاره نه شته
ګنې ښکلی له چا څنګ اخلي دلبره

دلته د فکر او د خیال خبرې ډېرې کیږي
د تورو سترګو د جمال خبرې ډېرې کیږي

خدای شته چې مونږ خو د هېچا کمال ونه لید لو
دلته خو هسې د کمال خبرې ډېرې کیږي
چاپې د تورې او قلم درناوی نه دی کړی
هسې په ژبه د خوشحال خبرې ډېرې کیږي
کله چې زړونو کې بلا کینې را وتو کیږي
بیا د ثواب او د وبال خبرې ډېرې کیږي
سپوږمۍ یا ته راشه یا ما درسره پورته بوځه
زمونږ ترمنځه د ښوال خبرې ډېرې کیږي

ښایي چې مینې دې د زړه له کوره کډه کړې
ساحله اوس دې د زوال خبرې ډېرې کیږي

# جینکۍ

ښکلا لري ښايست لري سرزوره جينکۍ دي
په مرګ پسې راوتې نن له کوره جينکۍ دي

يوه له لاسه ونيسه اوبل ته غاړه ورکړه
ددې وطن خو مړه بې پښغوره جينکۍ دي
يواځې د سپېڅلي مينې تږې دي ساحله
ټول عمر جنګ ځپلي او بې وروره جينکۍ دي

بلخ

د افلاطون په څېر بلا ډېرې خبرې لرو
مونږ ته هم غوږ ونیسئ مونږه هم سندرې لرو

زمونږ د زړه د ارمانونو ځانګې مه پرې کوئ غرونه
مو مه ولئ په غرونو کې ګورګورې لرو
کابلې ! ستا دیارکېدو قابل به یو او که نه
ډېرې خو نه خو یوه لپه ملغلرې لرو

د ښایستونو له کاروان سره ورغاړې وتې
زړګیه ښه شوه چې جانان سره ورغاړې وتې

زما د خیال د نغمه ګرو تال کې جوړه راغلې
ټپه ټپه شوې یه قربان سره ورغاړې وتې

اوس یې نو خپل کړه اوس دزړه په تل کې ځای هم ورکړه
ډېره موده پس دې ارمان سره ورغاړې وتې

زما په سترګو کې دې ځای ځانته و نه موندلو
د اوښکو رود شوې له ګرېوان سره ورغاړې وتې

چې د ټول عمر خومارونه دې یو دم ماتوي
ساحله ، څه عظیم انسان سره ورغاړې وتې

ترڅو چې مینان یو نو کچکول به ګرځوو
غزا ته چې ورځو په غاړه ډول به ګرځوو

بې بنګو ګوزاره خو ډېره ګرانه ده جانانه !
چې چېرته ځو له ځان سره کنډول به ګرځوو
غمونه او دردونه او داخیږي ګرېوانونه
جانانه ستا لپاره بس داتول به ګرځوو

# نذرانه

نه ،
داسې خونه ،
چې ته دبل په لاسو
له مانه سرغوڅوې
سرغوڅول مې هم قبول دي یاره !
خو ستا په خپلو لاسو
خو ستا په خپلو لاسو

مـــونږه دژونـــد هـــره شـــېبه دچـــا پـــه يـــاد تېـــرو
مـــونږ پـــه غمونـــو هـــره شـــپه دچـــا پـــه يـــاد تېـــرو

ســـم لکـــه روح غمونـــه هـــم لـــه ځانـــه نـــه بيلـــوو
دا ژونـــد دغـــم پـــه حوالـــه دچـــا پـــه يـــاد تېـــرو

چـــاره مـــو نشـــته شـــوګيرو مـــو ســـترګې وخـــوړلې
اوس شـــپې دبنګـــو پـــه نشـــه دچاپـــه يـــاد تېـــرو

اوس چې هغه شپه، راڅخه پاتې شوه
پوی شوم چې هغه، راڅخه پاتې شوه

نور به ځان دغم په خوب ویده ساتم
نوره شوګیره راڅخه پاتې شوه
مه کښېنه ساقي په میکده کې اوس
څه کوې نشه راڅخه پاتې شوه
نوره به دغرونو لاره ونیسم
نوره داکوڅه راڅخه پاتې شوه
بیا به تر ابده پورې پاتې یم
اوس چې قافله راڅخه پاتې شوه

وه ساحله اوس چې غزل نه وایم
ګرانه شوه پیاله راڅخه پاتې شوه

ارواښاد فرهاد ته د هغه په لیکه !

هغــــه چـــې یــــه فرهـــاده ! مـــا اوتـــا زنـــدې کـــوي
یـــو ورځ بـــه دا ځلـــور کونجـــه دنیـــا زنـــدې کـــوي
ای ! ودرېږ مـــخ راوا ړوه چـــې لاړه رانـــه، نـــهٔ شـــې
تیـــاره را خـــوره شـــوې ده رڼـــا زنـــدې کـــوي
دې خـــوار ولـــس دغـــاړې رســـې، ســـرته خېژولـــې
خـــو دا یـــاغي بـــاغي خلـــک یـــې لا زنـــدې کـــوي
څـــوک ور دمیکـــدې تـــږي ســـاقي پـــه کـــاڼو ولـــي
همـــدې کلـــي کـــې نـــور پـــاڅي مـــلا زنـــدې کـــوي

ســـاحله د دلبـــر ښـــېرا کـــې دومـــره لـــوی اغېـــز دی
چـــې اوس راتـــه پـــه ســـتوني کـــې دوعـــا زنـــدې کـــوي

دا نیمګړې مینې دې میراتې شي
دا کیسې به خومره په زړه پاتې شي

څنګ چې مخامخ ورسره ودرېږم
هېرې را نه ټولې ننواتې شي

ته چې زمونږ پیغلې په مرمۍ ولې
ستا پیغلې دې غبرګې په ملا ماتې شي

سترګې جنګول او جواري د زړو
دغه مسألې به ډېرې زیاتې شي

ستا په نوم غزل چې خیال کې راولم
ګوتې مې قلم باندې راماتې شي

زړه مې غواړي څنګ ته دې ويده شمه
ستا لپاره وسوځم اوبه شمه

ستا سترګو کې خپلې سترګې ښخې کړم
څومره ښايسته شم څومره ښه شمه
ته خو دې د تل لپاره ته اوسې
زه هېڅکله نه غواړم چې زه شمه
ښايي سپوږمۍ تا ته به درسمه
خوب کې هره شپه په الوته شمه

نه غواړم چې تل داسې ساحل اوسم
غواړم سمندره چې دې زړه شمه

څه نا علاجه زمانه ده خلک زړه خرڅوي
د څو روپیو په بدله کې سپینه خوله خرڅوي

نوره نړۍ د ماشومانو زړونه لاس کې ساتي
زمونږ ماشومان خو یا اوبه او یا سابه خرڅوي

ازاد بازار دی نو سړی به په کې څه ووایي
څوک سپین او سره راوړي او څوک په کې واړه خرڅوي

زمونږه پېغلې د کې سترګې ګرځوي له اوښکو
خو ګاونډي په اعظمي بیه رانجه خرڅوي

منم ساحله چې غمو به یې په سر اخیستی
خو باور وکړه خلک خپل کورونه نه خرڅوي

بس چې دې جلۍ وفا ونه کړله
ټولې زندګۍ وفا ونه کړله

ماله مې دې زړه ناولي غم جوړ که
تا سره خولګۍ وفا ونه کړله

زه خو یې دمینې په درد پوی کړمه
مړه شاعرۍ وفا ونه کړله

ما مې د زړګي کوڅو کې واوریدل
اف ! چې کابلۍ وفا ونه کړله

خلکو لمر او ستوري لاس کې ونیول
ما سره سپوږمۍ وفا ونه کړله

بــلا مــودې وشــوې چــې دا ســې پــه ســجده پــاتې دی
دا ســړی څــوک دی چــې پــه واوره کــې خولــه پــاتې دی

څـوک یـې مـادر بـولي او څـوک پـرې بیـا دمـور غـږ کـوي
پــه دې نــړۍ کــې صـرف همدغــه نـوم ښایسـته پـاتې دی
خلکــو خــو خپلــې برخــې هــر چېرتــه معلــومې کړلــې
بـس یـو پښـتون دی چې پـه هـر ځـای کـی سـاده پـاتې د ی
ورشــه بېګــاه خــو تــرې پــه منــډه منــډه بېرتــه راغلــې
تصـــویر دې هغســـې ســـریښ پـــه آیینـــه پـــاتې دی

ســـپوږمۍ خـــولاړه ســـپوږمۍ مـــخ ځـــادرکې ونغـــاړلو
ســـاحل وده کـــړئ ســـاحل هســـې شـــوګیره پـــاتې دی

دلته وګړي دخپل ځان په فلسفه کې ورک دي
ټول مخامخ ورته ولاړ خو آیینه کې ورک دي

له تابه څه پوښتم چې څوک یمه او نوم مې څه دی
زما دنامې توري زما په سیپاره کې ورک دي
یو نیم سړی دبل ښایست کې سترګې ښخې ساتي
نور نو اکثره بیا دځان په تماشه کې ورک دي
خلک په نورو هدیرو کې مړي ساتي ورځې
زمونږه مړي بیا زمونږ په هدیره کې ورک دي
ورځ کې دلمر له رڼا ځان ساتي خو ګوره سپوږمۍ !
ستا په رڼا پسې بلا خلک په شپه کې ورک دي
ښه ، په ساحل کې دې بلا هیلې کرلې دي خو
ډېر داستانونه دې یوه څپه کې ورک دي

راشي شوګيره کوي
ټوله شپه کيسه کوي
څه لېوني خلک دي
جنګ کوي جګړه کوي
عشق خلوص او زغم وفا
څومره ښه واره کوي
سترګې چې وروا ړوم
سره واوړي خوله کوي
بيا يې سترګې پټې دي
بيا به څه بانه کوي
زمونږ شعرونه هېڅ نه دي
خوند يې سريزه کوي
تا ته انتظار سپوږمۍ !
څه بلا مزه کوي
يو ځای شول خندا بربښنا
خدای مې دې پرده کوي
زمونږ دښمن زمونږ کورکې
خوب کوي دمه کوي
اوه ! ساحل ويلي وو
بل چېرته به شپه کوي

# غزل

یاره !
منم چې ښایست نه لرې ته
نه مې د سترګو کښې
ستا په لیدلو سوځې
خو د غې غزل دې څه بلا کړېده
بس چې را پېښنه وکړې
سترګې مې پټې شي او لید وبایلي

د درویش دراني پر پله

ځوک چې ښایست نه لري ځوک چې آیینه نه لري
هغه په ژوند کې د خوښۍ یوه شیبه نه لري
په بخملي تختونو شپه ورځې ویده پراته وي
دلته بلا وګړي شته چې شوګیره نه لري
د وجود نور غړي دې هر وختې پرده کې وي خو
وایي چې سترګو ته کاته څه کفاره نه لري
ددې هېواد دآبادۍ تمه به څه ترې وشي
دلته ماشوم تر اوسه لاس کې سیپاره نه لري
سپوږمۍ ! داستا دمخ رڼاته خوار په تمه ناست دی
یو ځوک غزل لیکي له ځان سره ډیوه نه لري
ښایي ددې نړۍ بدبخته وي همدوی ساحله
هغه وګړي چې جومات او مناره نه لري

ښکلي چې راځي موږ ته جمال ورسره نه راځي
عشق راوړي زړه راوړي جلال ورسره نه راځي
څنګ چې د پښتون بچی نړۍ ته سترګې پرانیزي
جنګ جګړې یې کسب وي کمال ورسره نه راځي
ښایي چې ددې نړۍ بدبخته خلک موږ یوو
موږ ته چې ښامار راځي نو لال ورسره نه راځي

چېرته چې پرده د سړي نه کېږي
هلته نو بيا شپه د سړي نه کېږي
سترګې ښې په دې چې بهر لار لري
زړه کې ګوزاره د سړي نه کېږي
يا خو د مور غېږه يا د يار کوځه
بل ځای کې دمه د سړي نه کېږي
ښکليه ! چې ته نه يې نو دا ومنه
ځان سره دعوه د سړي نه کېږي
هسې نه ساحله چې لمبه دې کړي
بيا ګوره چاره د سړي نه کېږي

بیـــا ســـلام راوړانـــدې شـــوی
بیـــا الهـــام راوړانـــدې شـــوی
څـــه بـــه هـــر بـــڼکلي تـــه ژاړم
څـــه ناکـــام راوړانـــدې شـــوی
ســـندریز وطـــن کـــې اوســـم
څـــو مره پـــام راوړانـــدې شـــوی
څـــه تـــاثیر ســـتا کمالزیـــه !
د کـــلام راوړانـــدې شـــوی
زه مجبوریمـــــه ســـــاحله
غـــم د قـــام راوړانـــدې شـــوی

دلته خلک ډېر مغروره دي من، من دي
داسې نه ده چې په چاپسې دردمن دي

يوه تشه خوله خندا او مسک برېتونه
دا وګړي بس همدغو مره خوږمن دي
همغوی به ستا خوښې لمبه ، لمبه کړي
ته ، به وايې ځه ياران مې اندېښمن دي
مايو وخت ويل چې ښکلي راته ګران دي
خو ترا وسه هم په ما باندې شکمن دي

نه ساحله ستا د زړونو ساتل نه زده
په همدې درنه دا ښکلي ګيله من دي

ستر ګو نه پرده کوو چې څه کېږي
زړه کې ګوزاره کوو چې څه کېږي

پرېږده چې د زړه خبرې ومنو
هر ښکلي ته ښه کوو چې څه کېږي

خوب کې خو زړګیه جانان نه راځي
نوره شوګیره کوو چې څه کېږي

تول کلی به پوی په خپله مینه کړو
دغه اراده کوو چې څه کېږي

څه ساحله نن خو مې سوال ومنه
چېرته ننداره کوو چې څه کېږي

(لکه غرونو کې اوبه ته لاره وشي)
داسې کله کله زړه ته لاره وشي
په دې لاره بانـدې د پـر خلک ښو ییږي
خو یو ازې ستا بانه ته لاره وشي
د مین زړګي ارمان په کې تو ییږي
چې له سترګو نه لېمه ته لاره وشي
ستا غمونه مې په خیال کې داسې ګرځي
(په غوړو کې چې ویښته ته لاره وشي)

چې هر ښکلی یې په زړه کې لاره کاږي
ساحل نه وایې چې څه ته ؟لاره وشي

مــونږ ژونــدي يــو خــو لــه ژونــده نــاخبره
مــونږ بـــې خونـــده يــو لــه خونــده نــاخبره

اوس د ښـــار پـــه منزلونـــو کـــې اوســـېږو
اوس يـــو ځکـــه لـــه هلمنـــده نـــاخبره

تــه خــو ښــه يــې يــو ســلام خــو دې راغلــی
خـــو بيـــا زه يمـــه څرګنـــده نـــاخبره

ســتا يــوه بوســه بــه مــا اوبــه، اوبــه کــړي
زه خـــو ومـــه لـــه ســـوګنده نـــاخبره

زمـــانې دومـــره کمـــزوری کـــه مړونـــده !
ســتا ســاحل دی اوس لــه (( انــده )) نــاخبره

نه یاري کړي نه سلام کلي کې ګرځي
ښکلي څه کوي مدام کلي کې ګرځي

د زړه وینې خو زموږ پسې تویږي
خدایزده چاته لاس په نام کلي کې ګرځي
ستا مین چې غزلیز سفر پیل کړی
له طبیعت اخلي الهام کلي کې ګرځي
ددې زیري په ارمان پسې به مړ شم
چا رواړی دی پیغام کلي کې ګرځي

فقط سترګې جنګوي او لاره ګوري
ساحل څه په احترام کلي کې ګرځي

یو غزل او یو سلام د مینې نښه
د هر ښکلي احترام د مینې نښه

د بل غم سره د اوښکو لارې لارې
په ګلونو باندې پام د مینې نښه
په کوڅه کې یو هلک د ونې شاته
او جینۍ ناسته په بام د مینې نښه
د مشرانو د خبرو اورېدنه
د ماشوم په خوله پیغام د مینې نښه
ته دې خپل یاران ګرم مه بوله ساحله
ستا غزل سره ناکام د مینې نښه

زړه مې مه پټوه ګرانې !درسره دی
بېرته ۍ راکړه مهربانې !درسره دی

اوس خو زه هم لکه سیوری درپسې یم
چېرته ګرځې سرګردانې !درسره دی

نور نو نه کېږي خبرې دې اوږدې شوې
د الفاظو ترجمانې !درسره دی

خیر دی ما له دغې غمه په امان کړه
د غمونو کوروانې درسره دی

د ساحل له خولې به د الفاظ وانه وړې
درته وایمه ګلپاڼې !درسره دی

سره ګلابونه چې شبنم پالي
زړه مې اوس د غسې صنم پالي

ستا مرمرينو سترګو ټيټې کړلې
سترګې مې جنګ نه کوي نم پالي

ما چې په کومو ځان پا چا ګڼلو
هغه ملګري مې اوس کم پالي

ځو مره کمزوري انسانان مينان
د عشق ټپونه چې په دم پالي

ساحل ته خپل غمونه هيڅ نه ښکاري
ساحل له هر چا سره غم پالي

ما تـــه ګـــل ښـــکاري ګـــلاب دی هغـــه ښـــکلی
د هـــــر ښـــــکلي انتخـــــاب دی هغـــــه ښـــــکلی

ما د ژوند د ښکلا څکه په کې کړې
د رنګونـــــو يـــــو دريـــــاب دی هغـــــه ښـــــکلی

شـــيخه ! ســـتا د ارادو پـــه کـــې څـــه نـــه شـــته
ملنګـــــانو تـــــه ثـــــواب دی هغـــــه ښـــــکلی

د بـــد رنګـــو زړونـــو ژونـــد بـــه پـــه کـــې ســـوځي
ما تـــه ښـــکاري انقـــلاب دی هغـــه ښـــکلی

اوه !ســـاحله، مـــونږ تـــه دغـــه خبـــر بـــس ده
چـــې ســـتا ښـــکلو کـــې حســـاب دی هغـــه ښـــکلی

مینـــه کـــې اســـلام تـــه ســـړی ورســـي
ځـــومره لـــوړ مقـــام تـــه ســـړی ورســـي

خپلـــه بـــې وســـي بـــه پـــه کـــې ووینـــي
اوس نـــو کـــه بـــاګرام تـــه ســـړی ورســـي

ســـتا هنـــر چـــې غـــم او تربګنـــي وخـــوري
ځـــه بـــه نـــو انعـــام تـــه ســـړی ورســـي

دا شـــــیبې لـــــه مـــــرګ ســـــره تړلـــــي وي
مخکـــې چـــې پیغـــام تـــه ســـړی ورســـي

کلـــه چـــې ســـاحله ســـترګې پټـــې کـــړي
هلـــه بـــه ارام تـــه ســـړی ورســـي

د نـــړۍ خلـــک مـــاغزه وخـــوري پوهـــان شـــي
ځمکـــه ونیســـي او پورتـــه تـــر اســـمان شـــي

زمـوږ ځوانـان چـې لـږ پـه ښـه او بـدو پـوی شـي
سـم د لاسـه ټوپـک واخلـي قومنـدان شـي

00000

مـونږه ژونـد غـواړو او ژونـد د ژونـد لپـاره
داســې نــه چــې د هــوس او خونــد لپاره

بیـا د نویـو عملیـاتو نـوم تـازه شـو
د پښـتون او د مظلـوم هلمنـد لپـاره

یار راته زما په زړه یوه خبره نه کوي
زه یې چې په تمه یم هغه خبره نه کوي

زه چې خپل یاران د آیینې په څېر شفاف ګڼم
ما ته یاران ولې پښتنه خبره نه کوي

ځار شمه د خپل کلي درانه مشران چې ګورمه
سر یې که په دار هم شي کږه خبره نه کوي

ته ورته د خپلې ښکلا دومره صفت مه کوه
مانه بغیر د غه آیینه خبره نه کوي

ستا د غزلیز مزل د لارې لاروی نه شوم
ستا په څېر ساحله زمانه خبره نه کوي

اجمل اند او وړوکي اند ( پاڅون ) ته !

زمـــا او د جانـــان کلـــه نظـــر چـــې مخـــا مخ شـــي
بـــس ســـم لکـــه ځـــا نمرګی او عســـکر چـــې مخـــا مخ شـــي

لـــو مړی را ســـره ســـترګې جنګـــوي بیـــا غـــاړه راکـــړي
دا ښـــکلي خلـــک ما ســـره اکثـــر چـــې مخـــا مخ شـــي
بـــاور لـــرم چـــې غرونـــه بـــه هـــم غـــاړې ســـره ورکـــړي
کلونـــه پـــس د مینـــې مـــرور چـــې مخـــا مخ شـــي
انصـــاف ورځینـــې نـــه غـــواړي ډوډۍ ورځخـــه غـــواړي
زمـــوږ د کلـــي خلـــک او رهبـــر چـــې مخـــا مخ شـــي

حتمـــاً بـــه یـــې ســـاحله شـــاعري بیرتـــه ژونـــدۍ شـــي
چینـــار ، چینـــه ، اجمـــل او بیـــا ســـپین غـــر چـــې مخـــا مخ شـــي

ښه ده چې تا ته لا نه نه اوري
دغسې زما دي ته نه اوري

زه به دې تا ته خپله خلک وژنم
دا سري په ښه له ما نه نه اوري

خدايه ښه په لوی انسان مې يمه
اوري چې په غره له ما نه نه اوري

لېونی له خپل ارمان سره په لاره
وي نښتی له ګرېوان سره په لاره

چې ددې وخت د خوبانو څه عادت دی
قدم اخلي له ګومان سره په لاره

یو یشتمه پېړۍ هم پای ته رسیږي
خو څوک نه ځي له افغان سره په لاره

دا شېبې د مینانو ښکاره ښې
پلی تګ او له باران سره په لاره

که همدا سې اند ښښنې وي بیا ضرور به
ساحل مړ وي له جانان سره په لاره

کـــه دې خـــراب او کـــه دې ســـم وکـــه
پـــه ، نـــه خبـــره دې قســـم وکـــه

ښـــه، ود زړه خـــو مـــې ځـــه غـــم وکـــه
ســـترګو مـــې بیـــا درپســـې نـــم وکـــه

چـــې دې دنیـــا تـــه مـــونږه ځـــه کـــړي وو ؟
چـــې دې دنیـــا پـــه مـــونږ کـــرم وکـــه

زمـــا د اوښـــکو ځـــاځکي نـــه پېژنـــې ؟
چـــې تـــا ګومـــان پـــرې د شـــبنم وکـــه

بېګـاه مـې خـوب لیـده چـې یـار مـې نشـته
بېګـــاه مـــې ټولـــه شـــپه مـــاتم وکـــه

زړه هسې په نه خبره سوی کوي
ځان سره پخپله دا زیاتی کوي

زه که څومره ځان پرده کې ساتمه
سترګې مې د ښکلو هرکلی کوي

دا زړه په اورونو باندې ایښی دی
دا زړه چې لمبه کوي لوګی کوي

څوک به دې نړۍ کې وي چې لاس درکړي
څوک به دې په کلکه مخنیوی کوي

دا ساحل به غرونو باندې واړوې
دا ساحل چې تا سره ناستی کوي

نـــه ګرځـــي ګلونـــو پســـې نـــه ګرځـــي
خلـــک د چـــا زړونـــو پســـې نـــه ګرځـــي

هـــر پـــردی زمـــوږ د غرونـــو تـــږی دی
څـــوک د چـــا غمونـــو پســـې نـــه ګرځـــي
ښـــکلي پـــه لفظونـــو بانـــدې زړه ســـاتي
ښـــکلي پـــه شـــعرونو پســـې نـــه ګـــر ځـــي
هېڅـــو ک دلتـــه روغـــه ســـتړه نـــه غـــواړي
هېڅـــوک پـــه ســـرونو پســـې نـــه ګرځـــي
خلـــک یـــو ارمـــان بـــې خوبـــه کـــړي دي
خلـــک پـــه خوبونـــو پســـې نـــه ګرځـــي
اوس ســـاحل لـــه هرڅـــه ســـره روږدی دی
ځکـــه پـــه ســـوچونو پســـې نـــه ګرځـــي

بس ایله مو غریبي په ښار کې وکړه
مونږ همدومره خوشالي په ښار کې وکړه

زه د ژوند په لاره هېڅ روان نه کړم
ما هر ښکلي ته زاري په ښار کې وکړه

مونږ د کلي ښایستونه لولپه کړه
مونږ چې سپوره شاعري په ښار کې وکړه

نور وګړي پکې اوسي لکه مړي
څو کسانو زندګي په ښار کې وکړه

اوه ساحله هغه خلک لیوني دي
چا چې مینه، سادګي په ښار کې وکړه

# پښتنه پېغله

ده د وخـــت خبـــره لـــیکن ډېـــره بـــې بـــاوره ده
دا چـــې پښـــتنه پیغلـــه د هـــر ســـړي نـــوکره ده
دا پیغلــه پــه خپــل وجــود او نفــس ښــه زوروره ده
منمـــه چـــې ښـــکلې ده ښایســـته ده ملغلـــره ده
لاس کـې ټوپـک خـو لـه کـې یـې اوراغوسـتې زغـره ده
ومنـــئ د خـــدای پـــه ټولـــو لارو برابـــره ده

زړه کې دې ځی نه شومه هېڅ نه شومه
چې ستا زړګی نه شومه هېڅ نه شومه

حالاتو څو که ښکته پورته کړمه
خو چې سړی نه شومه هېڅ نه شومه

د یوه ساده باده غماز سترګو ته
زه چې ازغی نه شومه هېڅ نه شومه

زه که د هر سړي په کار شم موړي
چې ستا سپرلی نه شومه هېڅ نه شومه

ساحله ډېره غلامي مې وکړه
بس چې لوګی نه شومه هېڅ نه شومه

ځان ته ناست یمه له ستورو سره پالم
خپلو پرېښودمه، نورو سره پالم

ماته سپينو خلکو توري کيسې وکړې
پاتې عمر مې له تورو سره پالم

زورورو، زوروري نخرې وکړې
اوس چې مینه له کمزورو سره پالم

زه د سرو شونډو احسان منلی نه شم
سپورې شونډې مې له سپورو سره پالم

نه ساحله ما خو هر ځل ته راستون کړې
تابه ویل چې له میخورو سره پالم

په وړه غونډې خبره سړی مات شي
چې رابېل شي له لښکره سړی مات شي

نن مې بیا یار په وړه خوله راته وویل
چې راګوري زوروره سړی مات شي

دا مرموزې ګونګوسې چې سړی اوري
یارانې شي د نظره سړی مات شي

چې دې ځنګ کې وه د ننګ چینار په ځېر یې
خو چې شوله مروره سړی مات شي

واه ساحله ستا خبرې خو پخې دي
چې په لاره ځي کاپره سړی مات شي

خلکـــو وکړلـــې د غرونـــو مـــنځ کـــې لارې
مـونږ ونـه شـوې کـړې د زړونـو مـنځ کـې لارې

د ښـــــکلا او د ســــــرخیو لـــــه ســـــببه
چاتـــه ښـــکاري د ګلونـــو مـــنځ کـــې لارې؟

زه د ښـــکلو پـــه کـــاروان پســـې یـــم تللـــی
مـــا لیـــدلي د اورونـــو مـــنځ کـــې لارې

زبردســـته آیینـــه مـــې مـــخ تـــه ایښـــي
پـــه کـــې وینـــم د خیـــالونو مـــنځ کـــې لارې

خـــو د یـــار دغـــې خبـــرې زه حیـــران کـــړم
ګـــران دي ، ګـــران دي د ریـــابونو منځ کـــې لارې

زه وايم خبرو پسې مړيمه
زړه وايي سندرو پسې مړيمه
خوله وايي ګورګورو پسې مړيمه
عشق وايي ملګرو پسې مړيمه
اوس چې له جانانه جدا شوی يم
ټولو مساپرو پسې مړيمه
اوس مې په غره واوره راته نه ښکاري
اوس مې په نښترو پسې مړيمه
بيا راشي او بيا مې زړګی وغواړي
بيا ورکو سوالګرو پسې مړيمه

تاته چې ساحله مينه وښايي
داسې زورورو پسې مړيمه

یـــاره ســـتا خبـــرو کـــې خبـــرې دي
کېنـــه پـــه ســـندور کـــې خبـــرې دي

دا چـــې ســـپینې خـــولې پـــه بلـــه نـــه اوړي
بیـــا نـــو پـــه ګورګـــورو کـــې خبـــرې دي

مـــونږ تـــه یـــې د زړه رنځونـــه واچـــول
خـــدای شـــته پـــه ملګـــرو کـــې خبـــرې دي

چېرتـــه آیینـــه کـــې ځانتـــه وګـــوره !
چـــا ویـــل ملغلـــرو کـــې خبـــرې دي

تانـــه چـــې ســـاحله زړه کـــې ژونـــد غـــواړي
بـــس نـــو دې ســـوالګرو کـــې خبـــرې دي

ټول کارونه دې خراب وي سم دې نه وي
فقط دا چې خوشالي وي غم دې نه وي

هر سړي سره دې سل میله وسله وي
بس یواځې میرات مړی بم دې نه وي

ژوند همغه وي دلبره چې په زړه وي
زما سترګو کې اوښه چم دې نه وي

زما زړه دا سې کنډر بنه دی خو ته دې
سترګې غټې ګرځوه خو نم دې نه وي

شاعران به ستا غزل اوري ساحله
تل د ډیرو دوعا وکړه کم دې نه وي

زه نېږدې یم ژوند له مانه لرې دی
خدای شته دی چې خوند له مانه لرې دی

مابه یې یتیم ورکې ښکل کړې وای
څه وکړم هلمند له مانه لرې دی

یار ته به په څه باندې یار ووایم
دا چې ښه څرګند له مانه لرې دی

اوس مې چې غزل درته ښه نه ښکاري
ښه پوی یې چې اند له مانه لرې دی

پوی شومه د کلي غم د کلي دی
ماسره دا ټول ماتم د کلي دی

ماته اوس په ښار کې هر سړی وایي
دغه سادګی خوسم د کلي دی

ښار کې منترونه ، جادوګانې دي
تاسره خو اوس هم دم د کلي دی

تاسره د ښار د ښاپېرو صنم
ماسره زما صنم د کلي دی

څومره به بې مینې وای که ښار کې وای
ښه دی چې ساحل خو هم د کلي دی

ببېګاه راغلې
دنیا راغلې
کلیوال چپ دي
بلا راغلې
ثواب ترې جوړ شه
ګناه راغلې
مورې ما ښکل کړه
سزا راغلې
څه خو به وايي
چې بیا راغلې
(( جلال )) راغلی
رڼا راغلې
چې غم راغلی
خندا راغلې
خو چې ته نه یې
ژړا راغلې
ساحله ! غرق یې
تنها راغلې

افغانستان ته د جلال د راتلو په پلمه !

وایي جلال راځي چې څه به کېږي
د شعر جمال راځي چې څه به کېږي

د ښکلو سیال راځي چې څه به کېږي
پښتون بلال راځي چې څه به کېږي

زما د سترګو کسي اوس نه سوځي
د تندي خال راځي چې څه به کېږي

د ماتو زړونو د پیوند لپاره
استاد کلال راځي چې څه به کېږي

بېګاه مې زړه ویل ساحله ! اشنا
ستا اندېوال راځي چې څه به کېږي

نه ، که نه په غم درسره پاتې یم
څومره ډېر وم کم درسره پاتې یم

ټول عمر دې زړه نه غوړځولی یم
ټول عمر ته هم درسره پاتې یم

ستا ګلابي مخ خو مې پاللی دی
سم لکه شبنم درسره پاتې یم

هره شېبه ستا د نظرونو ښکار
لاندې تر قدم درسره پاتې یم

تاکه د ساحل لارې څارلې دي
زړه ! ګوره زه هم درسره پاتې یم

سر مو مات ښه دی خو زړه په سر کې ساتو
د ښار ښکلي یو وېښته په سر کې ساتو

سترګې مړې ښې وي چې ښکلي درته ګوري
جنګولو ته بانه په سر کې ساتو
الفاظ، نوي راولو چې زړه پرې ښه شي
شعر ویلو ته زاړه په سر کې ساتو
مونږ له هرې ښکلا خپله برخه غواړو
دې حالاتو کې ځان ښه په سر کې ساتو

نه ، ساحله خو چې یار در ځیني لاړه
بیا به هغه مهال څه په سر کې ساتو !؟

دا ژوند لکه د تورو کانړو غر شي چې ته ځې
د هرچا لاس په ما خوارکي برشي چې ته ځې

له تا سره دا ټول ماحول راټول وي لکه مور
وجود له مانه بلکل مرور شي چې ته ځې
زموږ په کې نور څه دي چې دمې په کې کوو
اورونه دې ورپورې په ګودر شي چې ته ځې
دا ستا په سر د هسکې شملې ویاړ لرمه زه
له ما نه دې هم پاتې شور او شر شي چې ته ځې

پاچا دې کړ له ځمکې نه دې پورته کړ اسمان ته
ساحل به بېرته بیا د چا نوکر شي چې ته ځې

دا زه ولې کوی نه شم ګذران لکه یاران ؟
هر وختې ښکلووم د خدای قران لکه یاران

د خیال ځپې مې وچې دي په دښته کې روان یم
په زړه باندې مې نه اوري باران لکه یاران

د هرې زمانې د سود او زیان کیسه کې نه یم
الله راکړي شکر دی یاران لکه یاران

له هر چانه به ځان ځاروم خوله به تربنه غواړم
په ژوند کې به نور نه کوم خپګان لکه یاران

ساحله ددې وخت له رواجونو نه تېرېږم
له ځان سره به ګرځوم جانان لکه یاران

ربه استعمار یمه ما وژغوره
زړه باندې بېمار یمه ما وژغوره

سره کفار راغلي دي او وژني مې
پروت په لویه لار یمه ما وژغوره

منمه چې ستا لاره مې پرېښې وه
بیا هم امیدوار یمه ما وژغوره

هر سړي نه مینه د ورورۍ غواړم
خاورې د دربار یمه ما وژغوره

بله اسره بله لاره نه لرم
تاته انتظار یمه ما وژغوره

لکـــه ګـــل ، لکـــه لېمـــه، لکـــه اوبـــه
راتـــوییږي مـــې پـــه زړه لکـــه اوبـــه

اوس د ســرو وینــو چینــې لــه ځمکــې وځــي
اوس نـــو نشـــته دی اوبـــه، لکـــه اوبـــه

کلیوالـــو ښایســـتونو تـــه لـــوګی شـــم
ښـــکلي، ښـــکلي دي راڼـــه لکـــه اوبـــه

د غریبـــو مینـــو غـــم ورســـره نشـــته
زورو دې شـــې ســـاړه لکـــه اوبـــه

دوه ښـکلاوې دي سـاحل بـه پـه کـې مـړ شـي
یـــو دې مینـــه او بـــل تـــه لکـــه اوبـــه

بلا به وه خو برکت یې نه و
جذبه یې ورکه وه جرات یې نه و

داخل په کلي کې هر څه ښکلي وو
کلی هماغه و غربت یې نه و
چا ورته هسې سلام هم نه کاوه
ملنګ ژوندی و کرامت یې نه و
بیا هم د کلي خان ظلمونه کول
بیا هم بې قدره و عزت یې نه و
یو ورځ به وي چې هر سړی به وایي
ساحل خو و خو بغاوت یې نه و

چې نه کوې د زړه له تله مینه راسره
الله دې نه کړي ګډه دا ستا وینه راسره

بیا وروسته مې د سترګو تیتېدل نه دي پکار
بس ښه شوه چې خبره دې کړه سپینه راسره

د شور له بازارونو نه په منډه منډه راغلم
دنیا د خاموشۍ نه، شوه رنګینه راسره

د ژوند د خوشبویۍ لپاره ښه لونګ په کار دي
که خدای چېرې نېږدې کړي لونګینه راسره

ساحله یو بدرنګه زمانه کې پیدا شوی
داخلک او حالات چې دي بدبینه راسره

ورځ چې کله تېره شي نو شپه راځي
خوارو او بربنډو ته پرده راځي
چاته د زړه سر چاته مېلمه راځي
مونږ ته هم پراخه حوصله راځي
یاره دومره زر رقیب ته مه ورځه
ژوند دی دې کې غم راځي غوسه راځي
پورته ورته هم کتلی نه شمه
هر ښکلی چې ګورمه جذبه راځي
هره ورځ په غرونو کې بمبار کېږي
هره ورځ له غرونو جنازه راځي
زه خو یې د سولې خلاف بولمه
چېرته چې په مخه دروازه راځي

کله چې یار ښکل کړم سترګې ټیټې کړي
نه ، ساحله دا کار مې ښه نه راځي

یو وخت و شاعري وه یارانه وه زړه کې زور و
د ښکلو په څېر ښکلې زمانه وه زړه کې زور و

اوس هر چاته سلام کول د ژوند کولو لاره
پخوا خو که ګېله که بهانه وه زړه کې زور و
ګودر و چېته پېغلې وې لمر مخې هلکان و
سندره وه ټپه وه ترانه وه زړه کې زور و
اوس زور دی بد معاشي ده خو چې ښکلي خلک شته و
قانون و محکمه وه جېلخانه وه زړه کې زور و

ساحله دا خو ښار دی مېخانې دي خلک مست دي
بس کلی و چې ژوند و بنګدانه وه زړه کې زور و

ښکلي يې ښکلي راپسې راځه
زړه يې منلی راپسې راځه

لکه پاللی مينه نه غواړمه
لکه ساتلی راپسې راځه
دانه وانه يې ټولوه راپسې
زړه مې شيندلی راپسې راځه
بيا به د ژوند په لاره نه ودرېږي
مرګ مې ګنډلی راپسې راځه
نور به اغزي چېرې چېړل ونه کړي
ګل مې سپځلی راپسې راځه

ساحله چېرته به مې زړه پرېوځي
عشق مې ګوټلی راپسې راځه

زاره چـــاودی شــــومه یـــاره زاره چـــاودی
ســـتا د ســـترګو لـــه ګـــوزاره زاره چـــاودی

مـــا خـــو تـــول عمـــر خـــواري درپســـې وکـــړه
خـــو تـــا ځـــه کـــړم پـــه کـــراره زاره چـــاودی

مشـــره ! ځـــومره چاپلوســـي دې پـــه کـــې وکـــړه
بیـــا هـــم لاړې لـــه دربـــاره زاره چـــاودی

تـــه، خـــو دلتـــه هـــر ســـړي پـــه کـــانو ویشـــتې
اخـــر شـــوې د چـــا لپـــاره زاره چـــاودی

اغیـــار ژاړي خـــو جانـــان وروپـــورې خانـــدي
ســـاحل مـــړ پـــروت دی پـــه لاره زاره چـــاودی

د مجید قرار ښکلې لور ډیوه ګلې ته !

د ګلونـــو پـــه ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !
اوو رنګونـــو پـــه خپـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !

د دې ټـــول طبیعـــت او ټولـــو کاینـــاتو
تصـــویرونو پـــه خپـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !

د مینـــې کلبـــوالې تـــورو ســـترګو
نظرونـــو پـــه خپـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !

د کابـــل د شـــوخو شـــوخو مســـتو پېغلـــو
مړونـــدونو پـــه خپـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !

د قـــرار د ســـترګو تـــور او د زړه مینـــې
د شـــعرونو پـــه خپـــر ښـــکلې ډیـــوه ګلـــې !

یواځې مې دا ستا په خولګۍ زړه نه یخېده
یو څه خو یخېده خو دا سې ښه نه یخېده

دا ستا د یوې مستې خندا څه عجیبه تاو، و
د زړه اور مې په واورې او اوبه نه یخېده

د یار په جدایۍ مې تر سحره ځنکدن و
رقیب هم تر سحره راکاته نه یخېده

له زړه نه مې د وینو څه عجیبې لارې وشوې
دلبر په کې منډلي وو بانه نه یخېده

ساحله عجیبه مسلمانان له نړۍ لاړل
چې ورور به یې مړ پروت و په کاله نه یخېده

مونږ لېوني نه یو خو چا له مونږه زړه وړی دی
یوې جلۍ یوې ښکلا له مونږه زړه وړی دی

دا مونږ چې هر سړي ته ګورو او خندلی نه شو
باور دې وشه چې بلا له مونږه زړه وړی دی

لږه موده کېږي چې ته مونږ سره مینه کوې
ډېره موده وشوه چې تا له مونږه زړه وړی دی

له تا خو هسې هم مونږ خیر چېرته لېدلی نه دی
ستا په ژړا کې دې خندا له مونږه زړه وړی دی

ساحله ! ستا په اراداو باندې به پوی شو خیر دی
چې تا په څه ډول مانا له مونږه زړه وړی دی

سپینه خوله په سپین سهار سره وهي
د ښایسته خلکو ازار سره وهي

د خپل کلي چینارونه در په زړه شي
سره تاوونه چې د ښار سره وهي

چې د ښکلو مخ دې ښکل که، پې تږې وڅي
ته به وایې چې کوکنار سره وهي

ستا خولګۍ نه وه بېګاه نهر ویده شوم
قسم مه کوه چې یار سره وهي

څه ساحله ! ستا زاري څه زما کبر
دواړه یو ځای په کرار سره وهي

بـــلا وهلـــي يـــو بـــلا دې زمـــونږ زړه ووهـــي
دنيـــا پرســـته يـــو دنيـــا دې زمـــوږ زړه ووهـــي

زمـوږ پـه سترګو کـې د خـاورې شـيندل څـه مانـا ده
اشـــنا دې راشـــي او اشـــنا دې زمـــوږ زړه ووهـــي

زمـوږ پـه زړونـو کـې خـو چېـرې او سـبدلی نـه شـي
کـه دلتـه ژونـد غـواړې پاچـا دې زمـوږ زړه ووهـي

دلبــر تــه وايــه چــې د غرونــو ســره ســر جنګــوو
پــه چــړې نــه شــي پــه خنــدا دې زمــوږ زړه ووهــي

ساحله پـوی شـه چـې ايمـان بـه پسـې بـايلو آخـر
داسـې نـو نـه شـي چـې ښـکلا دې زمـوږ زړه ووهـي

تـــه راتـــه لارې شـــکوه زه بـــه درتـــه لار ښـــايم
د خپــل وجــود او د خپــل زړه بـــه درتـــه لار ښـــايم

زه مـــې پـــه پاکـــه اراده بانـــدې خوشـــاله يمـــه
تـــر ګلکځونـــو او کالـــه بـــه درتـــه لار ښـــايم
د کلـي ، ښـار کـوځې خـو خپلـه سـړی مـخ تـه بيـايي
خـــو زه پښـــتون يمـــه پـــه غـــره بـــه درتـــه لار ښـــايم
زمـــا پـــه يـــارۍ شـــک ، دانـــو ســـتا د عقيـــدې خبـــره
خـــو دا نـــو نـــه مـــنم چـــې نـــه ، بـــه درتـــه لار ښـــايم

ســاحله يــار چــې مــې پــه ســترګو کــې ازغــي راشــيندي
تـــه ورتـــه وايـــه نـــو چـــې څـــه بـــه درتـــه لار ښـــايم

نه خزان شو ، نه ماتم شو ، نه سپرلی شو
زموږ زړه هم بې موسمه لېونی شو

هم مین شي هم دانه وانه پرېوځي
اوس حیران یمه چې زړه شو که بنګړی شو

یو مین دی چې له ځان او ژونده خلاص دی
چا لیدلی چې کوم ښکلی لېونی شو ؟

ما ویل نن به یار د زړه له کوره باسم
خو چې خوله مې کړله بېرته هرکلی شو

زه خو څه د ښکلو خلکو مرید نه یم
هغه ښکلی نو په څه باندې موسکی شو ؟

نور خو واړه لېوني شو خلک ، خلکه !
یو ساحل دی چې په مینه کې سړی شو

ستا کنځلې زما زړه سره جوړېږي
بس پوی شوی یم چې ښه سره جوړېږي

څوک به راشي څوک به چغې کړي عالمه !
چې ټول شوي پښتانه سره جوړېږي

دا خو نه کېږي خو دا به هم وانه ورې
چې دوه ورونه په کاله سره جوړېږي

خو یوه سړي بیا داسې راته وویل:
بس چې کله شوه ماړه سره جوړېږي

خو زما دا زړه بیا داسې راته وایي
ګاونډیان چې شوه ویده سره جوړېږي

خو په خپله په دې پوی نه یم ساحله !
چې به څه وخت او په څه سره جوړېږي

نه په ورځې نه په شپه راسره تله
د قسمو په وعده راسره تله

دې عادت یې نو د زړه په سر سوری کړم
چې له مانه شرمېده راسره تله

ما به سترګې په څېرې ورخښولې
دې به وکړله تېپه راسره تله

هغه ورځ مې د سرو زرو په حساب وه
هغه ورځې چې هغه راسره تله

څه د ژوند د ماښامونو روښنايي وه
ځلېده لکه ډیوه راسره تله

چې ځواني به مې ساحله ! ور په یاد شوه
بیا د زړه په اراده راسره تله

د نصرت الهام د زوی د مړینې په ویر کې !

مونږ به هم مرو ځکه ژوند یو اسویلی دی
په دې پوی یم چې غوخ شوی دې زړګی دی

دا منم چې زوی د پلار د لاس غمی دی
نو ماتیږي چې د مور د لاس بنګړی دی

ستا د زړه د اطمینان که هر سړی دی
اوس دې خامخا په سترګو کې ازغی دی

ستا په غم کې به شریک وي مونږ پوهیږو
که دې خپل دی که ترخنګ دې ګاونډی دی

بس ساحله ! خدای به نور ګلونه ورکړي
شکر ، شکر چې الهام درته ژوندی دی

خود غزل وایي چې زړه خوري لېوني
چې له ښکلو نه هرڅه خوري لېوني

د نظر څوکې یې زړه باندې پرېوځي
بختور دی چې بانه خوري لېوني

مونږ همدومره وو چې خپلو وخوړلو
ورته وایه ! مونږ دې نه خوري لېوني

وایي ژوند مې د جانان په لاس کې نه دی
قسمونه په لمانځه خوري لېوني

زه مې یار ته ستا غزل وایم ساحله !
خو یار وایي چې ماغزه خوري لېوني

# له افغانستان سره وير

نن سبا په نړۍ کې په فساد ککړ دويم هېواد وپېژندل شو !

نه يې مينه نه يې ژوند شوې نه يې ځان شوې
لاړې هسې پښتنو باندې تاوان شوې
دا منم چې په خپل شتون ښه پښېمان شوې
چاته زړه چاته سپرلی چاته خزان شوې
*****
ته د خپلو بچو غم په ملا وهلی
خو يې خپلو بچو سم په ملا وهلی
ګاونډيانو خو يې هم په ملا وهلی
څه حالاتو څه تورتم په ملا وهلی
*****

ګلپرسته ماشومان دې لېوني دي
شته په واک کې واکداران دې لېوني دي
غرني دي طالبان دې لېوني دي
باور وکه هوښیاران دې لېوني
*****
ستا د هرې ارادې ارمان مړ شوی
د پښتون او پښتنې ارمان مړ شوی
څوک به وکړي کارنامې ارمان مړ شوی
درنه وځي آیینې ارمان مړ شوی
*****
ګلابونه دې پردي وړي لېونیه !
هر پردی درنه غمي وړي لېونیه !
ځیني ورونه دې سپرلي وړي لېونیه !
له میینو دې زړګي وړي لېونیه !
*****
اوس د تورې د خرپا درکې څوک نشته
ورته خانده د ژړا درکې څوک نشته
ګناهګاره دي ملا درکې څوک نشته
پاچایان دي یو پاچا درکې څوک نشته
*****
دا چې کوم سړي منبع او س د فساد کړې

ته دا ومنه همدې خلکو برباد کړې
د نړۍ په ترهګرو کې یې یاد کړې
خو بچو دې هم تورمخی او ناښاد کړې
*****
هر سړی وایي چې زړه افغانستان دی
( له کشمیره راته ښه افغانستان دی )
زمونږ سترګې او بانه افغانستان دی
حقیقت دادی ! چې نه افغانستان دی
*****
ستا په زړه باندې داغونه به همېش وي
له اسمانه تندرونه په همېش وي
په سینه باندې اورونه به همېش وي
خرڅوي به دې مرګونه به همېش وي
*****
بس د خدای د حفاظت امید دې ساته
زانته ژاړه د رحمت امید دې ساته
په ټول ژوند د انسانیت امید دې ساته
له بچو سره د نیت امید دې ساته

يو مهال و زړه مې تنګ و په سينه کې
له خپل زړه سره مې جنګ و په سينه کې

د ښکلا د تېنګې نه ولېوني و
غور ځنګونه و او شرنګ و په سينه کې

هري توري ته د سپر په څېر ولاړه
زه حيران يم څنګه ننګ و په سينه کې ؟

بس چې سر به مې پري کېښود بيا ويده وم
دا به مينه وه که بنګ و په سينه کې ؟

دا چې تا به په کې ژوند کوو ساحله !
د چا سترګې او پالنګ و په سينه کې

# سکون

مونږ د خپلې بې وسۍ کيسه کې نه و
مونږ د ژوند او خوشالۍ کيسه کې نه و
د ټوپک او ګردنۍ کيسه کې نه و
بس خدای شته چې د نړۍ کيسه کې نه و
*****
خپل وطن خو راته هسې هم کشمير و
هره ورځ به په کې مړي وو او وير و
څه د نورو څه زمونږ خپله تاثير و
بس چې څه به کېده مونږ به ويل تقدير و
*****
د انسان او انسانيت له زوره نه وو
د سرو سترګو د حکومت له زوره نه وو
پسې مړه و د دولت له زوره نه وو
بس د چا د محبت له زوره نه وو

*****

هر سړي ویل چې زه خپله پاچا یم
د وطن واګې چې هر طرف ته بیا یم
بهرنیو هېوادو سره اشنا یم
دا وطن ماته او زه ورته پیدا یم

*****

وطن خرڅ شو وطن لوټ شو وطن وران شو
هر سړي نه په کې پاتې خپل ایمان شو
مونږ ته اور شو خو پردیو ته جانان شو
بس بهر ته تګ د هر سړي ارمان شو

*****

وطن هر سړي د غم په اور کې پرېښود
چا چې خرڅ کړ هغوی سم په اور کې پرېښود
خپل ضمیر وجدان یې هم په اور کې پرېښود
ځینو زیات او ځینو کم په اور کې پرېښود

*****

بې وطنه شو وجدان مو لاس کې نه و
د پردي شو خپل ګریوان مو لاس کې نه و
ځان خو څه کوې چې ځان مو لاس کې نه و
ان تر دې چې خپل ایمان مو لاس کې نه

*****

هر سړی لاړه په تېښته بریالی شو
بس نړۍ وه کوم وطن ورته سپرلی شو
ځانته خوښ شو ځانته ښکلی شو موسکی شو
وېل یې ځه ښه دی بې غمه مې زړګی شو

*****

خو !

په پردي وطن کې ژوند ورباندې تنګ شو
هر سړی په تهمتونو باندې رنګ شو
بس یوې مړۍ ډوډۍ پسې ملنګ شو
خپل ضمیر او خپل وجدان سره یې جنګ شو

*****

ډوډۍ ډېره وه ژوندون ډوډۍ کې نه و
زهر، زهر و ترسکون ډوډۍ کې نه و
خرابات نه و هضمون ډوډۍ کې نه و
بې کراره وه سکون ډوډۍ کې نه و

*****

هغه چاچې خرابات کړې خرابات شوه
لکه وچ لرګی په څو بندو کې مات شوه
د پردیو په کورونو کې میرات شوه
بس د چا د یوې شپې د ملاقات شوه

*****

اوس چې ببرته راستانه شوه درته خلک
په مثال د مېلمانه شوه درته خلک
څه پردي څه پښتانه شوه درته خلک
بس یو خوب د ځنګانه شوه درته خلک

*****

وایې هر څه په پردي وطن کې ښه و
همغه کېدل چې هرڅه د چا زړه و
خو نه مینه نه سکون نه پښتانه و
هر سړی به خوښ زموږ په بېلتانه و

*****

نو ،
ای وطنه ! تا کې ژوند تا کې ژوندون شته
تا کې ښکلي ، ښکلي خلک شته پښتون شته
ستا په پیغلو او ځوانانو کې ترسکون شته
په دې ټوله دایره کې دې سکون شته

*****

زوروه یې مه په خدای ازار یې لګي
لا دا ښکلی دی کمکی ازار یې لګي

بس د شرنګ سره زړه پښو ته ورګوزار شي
خو چې لاس کې ې وي بنګړی ازار یې لګي

د دنیا له حقیرستو مې زړه تور دی
تخنوه مې مه زړګی ازار یې لګي

دا چې سترګې یې د سترګو نظر پرې کړي
دا چې مات یې دی تندی ازار یې لګي

اوس یې ښکلي له اودې څخه وتلي
اوس ساحل دی لیونی ازار یې لګي

ګل په ګوتو کې اغزي په لاس کې مه وړه
ماته وايي ! چې زړګي په لاس کې مه وړه

اوس چې زړه دې رانه وويست لږ يې پرېږده !
خير دی داسې يې دستي په لاس کې مه وړه
له زړګي نه مې سرې وينې رابهيږي
مړه شې ، مړه شې سره بنګړي په لاس کې مه وړه
چې د خپلې مينې ننبه دلته نه ږدې !
زموږ ژوند او پسرلي په لاس کې مه وړه

نه ، ساحله ! چې د ښکلو ناز دې نه زده !
بيا نو ته هم سپېلني په لاس کې مه وړه